IFIT
INSTITUTE FOR INTEGRATED TRANSITIONS

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

AREU
څېړنه د ښه افغانستان لپاره

# په جګړه کې حلوا نه وېشل کېږي

## له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راوروسته په افغانستان کې د انتقالي عدالت د ځوابونو او تګلارو ارزونه




ډاکټر اورځلا نعمت او سرینجوي بوس


سپټمبر ۲۰۲۰

## د پروژې په اړه

د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیتیوټ (Institute for Integrated Transitions) د فکر یوه نړیواله خونه ده، چې له جګړې او دیکتاتوریو څخه د بریالیو مذاکراتو او انتقال سره په تړاو کې غوره نظریات او تجربې تر یو چتر لاندې راټولوي.

دا څېړنه د هغې پروژې یوه برخه ده، چې د پالیسۍ جوړونې په برخه کې یې د تشې ډکول موخه ده: د ادغام په برخه کې له ناکامۍ تر لاسه شوې تجربې او د انتقالي عدالت تر ټولو د غوره پلي کېدو بېلګې راسپړي. دا درسونه د شخړو هواري ته په کتو د غیرنړیوالو وسله والو دوه ډوله ډلو له مخې په ډاګه کېږي: ۱) له تاوتریخوالي ډکې افراطي ډلې لکه جهادي ډلې او ۲) د سازمان یافته جرمونو ډلې، لکه مافیا، باندې شبکې او د نشه یي توکو کارونه. پر لومړی برخه د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیتیوټ په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې د ملګرو ملتونو سازمان د پالیسۍ څېړنو له مرکز سره یو ځای کار پیل کړ. د دې پروژې په اړه اندېښنه دا وه، چې تر دې دمه د انتقالي عدالت په برخه کې حاکمې تګلارې د اصلي عواملو راسپړلو پرځای تر ډېره له منزویتوب او مجازاتو سره مرسته کړې ده او ترڅنګ یې ګواښونه لوړ کړي پایله یې د دربیو ګڼو موضوعي څېړنو خپرول شول د اسلامي دولت (داعش) ډله په عراق کې، الشباب ډله په سومالیا کې، او بوکو حرام په نایجریا کې او د پالیسۍ لومړی جوړښت یې هم رامنځ ته کړ.

د همدې لومړني کار له مخې د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیتیوټ په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې د څېړنې دویم پړاو د هماغې موضوع په اړه تر کار لاندې ونیو، په دې پړاو کې د هېواد له شرایطو ګڼ شمېر درسونه د ننګونو له شتون سره سره د پالیسي جوړونکو لپاره د لا زیاتو لارښوونو د وړاندې کولو په موخه وړاندې شوي دي. په دې پړاو کې د سیمه ییز کار له مخې راپورونه شامل دي، چې لیبیا (د لیبیا اسلامي دولت جنګیالی ډله)، یوګانډا (پرمقاومت ډلې په تمرکز) او افغانستان (پر طالبانو په تمرکز) هېوادونه تر پوښښ لاندې راولي. دغه ټول هېوادونه د مذاکراتو او انتقالي عدالت په پراوونو کې دي.

د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیتیوټ د بېلا بېلو نادولتي وسله والو ډلو د انګېزو، جوړښتونو او منځپانګو په برخه کې د تویېرونو او ورته والو موندلو لپاره بله اضافي څېړنه هم تر کار لاندې ونیوه. دا ټولې څېړنې یو نهایي چوکاټ وړاندې کوي، چې موخه یې له څېړونکو سره د مذاکراتو او انتقالي عدالت د ستراتیژیو په برخه کې د اصلي عواملو، تاوتریخوالي له منځه وړلو، او د تاوتریخوالي ځپلو ټولنو کې د قانون حاکمیت لپاره د کار کولو په تړاو مرسته کول دي.

د مدغم انتقال لپاه د څېړنو انستیتیوټ (IFIT) له نیدرلنډ هېواد (د بهرنیو چارو وزارت) او د رابرټ بوش له بنسټ د دې پروژې د مالي مرستې په پار مننه کوي.

## د لیکوالانو په اړه

ډاکټر اورځلا نعمت په سیاسي نژادپوهنه کې تخصص لري او د انګلستان هېواد له ختیځو او افریقایي مطالعاتو پوهنځي څخه یې په پراختیایي مطالعاتو کې دکتورا ترلاسه کړې ده. د نوموړې څېړنیزې سیمې حکومتوالي، شخړه، جنسیت او بشري حقوق، ناقانونه اقتصاد، پولې ته څېرمه سیمې او دولت جوړونه دي. اغلې نعمت د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) رئیسه ده.

ډاکټر سرینجوي بوس د استرالیا په سېډني ښار کې د نیو سوت ویلز په پوهنتون کې د سیاست او نړیوالو اړیکو استاد دی. د نوموړي څېړنیزه کاري سیمه سیاسي نظم او تاوتریخوالی او په ژوره توګه وېشل شویو ټولنو او دولتونو کې د دولت جوړونې او سولې ټینګښت سیاسي اقتصاد دی.

## مننه او کور ودانی

لیکوالان د دې څېړنې په بېلا بېلو پړاوونو کې د ګڼ شمېر متخصصینو او اشخاصو له مرستې مننه کوي. لومړی، موږ له مرکه کوونکو منندوی یو، چې پر موږ یې باور وکړ او د خپلو نظریاتو او لیدلوریو د شریکولو لپاره یې وخت راکړ. د دې ترڅنګ له ښاغلي ډاکټر حسن باقر څخه د مرکو ترسره کولو او لنډیز راخیستلو برخه کې د مرستې په پار مننه کوو او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري د څېړنې مدیر حسن وفایي څخه له څېړنیز ټیم سره د اړیکو ټینګښت او لوژستیک له کبله منندوی یو. له خپلو منتقدو همکارانو هر یو پاټریسا ګوسمان او پیري هازن څخه د دوی له منتقدانه نظریاتو او وړاندیزونو په پار مننه کوو. بلاخره د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیتیوټ د ټیم له ملاتړ او حوصلې دغه راز د ابېټرانو د رغنده نظریاتو او وړاندیزونو مننه کوو، چې د دې څېړنې په پراختیا او وده کې یې د پام وړ ونډه درلوده.. په تېره بیا له هاني میګالي، مارک فریمان او مارینا کاسیج ځانګړې مننه کوو. په دې څېړنه کې د هر ډول تېروتنې او نیمګړتیا مسوولیت د لیکوالانو په غاړه دی.

# مخففونه

| | |
|---|---|
| ACJC | له فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز |
| AIA | د افغانستان لنډمهاله اداره |
| AIHRC | د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون |
| AMF | د افغانستان ملېشايي ځواکونه |
| ANA | افغان ملي اردو |
| ANBP | د افغانستان د نوي پیل پروګرام |
| ANSF | د افغانستان ملي امنيتي ځواکونه |
| ANDSF | د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه |
| APRP | د افغانستان د سولې او بیاځلې ادغام پروګرام |
| AREU | د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره |
| ARHDO | د افغانستان د بشري حقونو او ډموکراسۍ موسسه |
| BSA | د افغانستان او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د دوه اړخیزو امنيتي همکاریو تړون |
| CIA | د مرکزي استخباراتو اداره |
| DDR | د بې وسلې کولو، منحل کولو او بیاځلې ادغام پروګرام |
| DIAG | د ناقانونه وسله والو ډلو منحل کول. |
| HIG | د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ اسلامي ګوند |
| HPC | د سولې عالي شورا |
| HRW | پر بشري حقونو د څار ډله |
| ICC | نړیواله جنايي محکمه |
| IED | چاودېدونکي توکي |
| ISK | د اسلامي دولت ډلې خراسان څانګه |
| MSF | بې پولې ډاکټران |

| | |
|---|---|
| NATO | د شمالي انتلانتیک معاهدې سازمان |
| NDS | د ملي امنيت عمومي رياست |
| OSF | د پرانېستې ټولنې بنسټونه |
| PDPA | د افغانستان خلق ډموکراتیک ګوند |
| PPC | د سولې ولايتي کمېټې |
| PTS | د سولې ټينګښت پروګرام |
| RiV | په تاوتريخوالي کې کمښت |
| SAAJ | د افغان عدالت غوښتونکو ټولنيز سازمان |
| SIGAR | د افغانستان د بيارغونې په چارو کې د امريکا متحده ايالاتو ځانګړی سرمفتش (سيګار) |
| UF | متحده جبهه |
| UNAMA | د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان مرستندويه ماموريت (يوناما) |
| UNDP | د ملګرو ملتونو سازمان پراختيايي پروګرام |
| UNMAS | د ملګرو ملتونو سازمان د ماین پاکولو خدمتونه |
| UNU-CPR | د ملګرو ملتونو سازمان پوهنتون، د پاليسۍ څېړنو مرکز |
| USIP | د امريکا متحده ايالاتو د سولې انسټيټوټ |

# د موضوعاتو لیکلړ


سریزه: ........ ۲

د څېړنې تګلاره (میتودولوژي) ........ ۸

د جګړې تاریخي شالید ........ ۹

په جګړه کې ښکېل لوبغاړي ........ ۱۱

حکومت او حکومت پلوي ځواکونه ........ ۱۱

طالبان ........ ۱۴

له ښځو او نجونو سره بې چلند او د جنسیت له مخې تاوتریخوالی ........ ۱۷

په تېرو کلونو کې د انتقالي عدالت پر سر خبرې اترې ........ ۱۸

د بن خبرې ........ ۱۸

د بن هوکړه ........ ۱۹

د بن هوکړه او انتقالي عدالت ........ ۱۹

له بن هوکړې وروسته انتقالي عدالت او سوله ........ ۲۰

د جنګي جرایمو مستندسازي او د جګړې له قربانیانو سره سلا مشورې ........ ۲۰

ښنه او روغه جوړه ........ ۲۱

پلټنه ........ ۲۳

بیا ځلې ادغام ........ ۲۳

عرفي عدالت ........ ۲۵

یادګار ........ ۲۶

د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ خبرې اترې ........ ۲۷

د انتقالي عدالت په تړاو د ښکېلو خواوو پوهه، لیدلوري او تمې ........ ۲۹

افغان دولت ........ ۲۹

د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون ........ ۳۰

طالبان ........ ۳۰

افغان مدني ټولنه ........ ۳۱

نړیوال لوبغاړي ........ ۳۲

پایله: پر مخ پرته لاره ........ ۳۳

لومړی مل لیک: د مرکو پوښتنلیک ........ ۳۵

دویم مل لیک: پېښلړ ........ ۳۶

# سریزه:

«په جګړه کې حلوا نه وېشل کېږي.»
افغاني متل.

د تېرو ۴۰ کلونو په ترڅ کې د افغانستان په جګړه کې د ښکېلو خواوو له ډلې هرې یوې یې اساسي بشري حقوق یا نړیوال بشردوستانه حقوق تر پښو لاندې کړي دي. دا هغه تریخ واقعیت دی، چې د هېواد بڼه یې بدله کړې او د بین الافغاني مذاکراتو لومړني پړاوونه تر خپل اغېز لاندې راولي.

افغانستان په ۱۹مه زېږدیزه پېړۍ کې د لویې لوبې په ډګر بدل شو، چې د تزاري روسیې او برېتانوي امپراتوریو د سیاسي او ډیپلوماټیکو تقابلونو په هسته کې یې د حایل ځای وموند. په ۱۹۱۹ زېږدیز کال د خپلواکۍ تر اخېستو وروسته د اعلیحضرت ظاهرشاه ۴۰ کلنې پاچاهۍ (۱۹۳۳- ۱۹۷۳) کې یو لړ اصلاحات منځ ته راغلل، تردې چې د خپل تره زوی او پخواني صدراعظم داوودخان له لوري یې پاچایي د یوې سپینې کودتا په ترڅ کې رانسکوره او جمهوریت یې اعلان کړ. د وخت ولسمشر داوودخان هغو ناکامو هڅو ته چې غوښتل یې له لوېدیځ او شوروي اتحاد دواړو سره لوبه پرمخ یوسي په ۱۹۷۸ زېږدیز کال کې د خلق ګوند کودتا په ترڅ کې، چې د کورنۍ جګړې او شوروي اتحاد ۱۹۷۹ زېږدیز (۱۹۷۹-۱۹۸۹) کال د یرغل لامل شوې، د پای ټکی کېښودل شو.

مګر بریالیو مجاهدینو هم ونه شول کولای چې خپل یووالی وساتي او په خپل منځ کې سوله ټینګه کړي. د دوی دې کار په ۱۹۹۲ زېږدیز کال کې د طالبانو په نوم سرسخته اسلامي خوځښت راټوکېدو او د هغوی له لوري د قدرت ترلاسه کولو ته لار هواره کړه. د دوی حاکمیت له اسلامي شریعت پر افراطي قرائت ولاړ و او یوازې د درېیو دولتونو له لوري په رسمیت پېژندل شوي وو، چې بلاخره د سپتمبر له ۱۱/۹ بریدونو وروسته یې واکمني په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د امریکا متحده ایالاتو د برید په ترڅ کې ړنګه شوه. له هغه راوروسته طالبانو د بن ۲۰۰۱ زېږدیز کال د تړون په ترڅ کې له رامنځ ته شوي حکومت سره، چې د دایمي دولتي ادارو د رامنځ ته کولو لپاره د لنډمهاله حکومت تړون په نوم هم مشهور دی، وسله وال مخالفت وکړ.

نن ورځ افغانستان د سیاسي بې ثباتۍ، سیستماتیک فساد، له مجازاتو د معافیت کلتور، بېوزلۍ او د خوندي چاپېریال په رامنځ ته کولو کې د پاتې راتلو له کبله له هغې سولې او ثبات سره په میلو واټن لري، چې په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې یې درلودل. دولتي اداري لا تراوسه کمزورې دي، اقتصادي وده ډېره پېکه ده او د نفوسو ډېری برخې د خوراکي امنیت له کبله زیانمنې شوي دي. حکومت یوازې پر کابل، ولایتي مرکزونو او د ولسوالیو پر مرکزونو حاکمیت او ولکه لري، په داسې حال کې چې طالبان پر زیاترو کم نفوسه لرونکو سیمو حاکمیت او ولکه لري.[1] د افغانستان وګړو د دې تاوتریخوالي او بې ثباتۍ په ترڅ کې یوازې لنډمهاله سکون تجربه کړی دی، چې د هغې له ډلې د ۲۰۱۸ او ۲۰۲۰ زېږدیز کلونو په کوچنیو اخترونو کې اوربند او په ۲۰۲۰ زېږدیز کال کې د امریکا متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د سولې تړ هوکړه لیک یوه اونۍ مخکې په تاوتریخوالي کې د لنډمهاله کمښت بېلګو ته اشاره کولای شو.

له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راپه دېخوا د جګړې په تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی او د ۷ پرله پسې کلونو لپاره هر کال یې له ۱۰،۰۰۰ زیات د ملکي وګړو تلفات له ځان سره لرل. د دغو تلفاتو عمده لامل د طالبانو او عراق – شام اسلامي دولت ډلې (داعش) د خراسان څانګې په څېر وسله والې ډلې دي، خو ترڅنګ یې د دې تلفاتو یو شمېر د نړیوالو په تېره بیا د امریکا متحده ایالاتو د ځواکونو له لوري د هوایي او ځمکنیو بریدونو په ترڅ کې هم رامنځ ته شوي دي.

د اقتصادي ودې وضعیت هم د اندېښنې وړ دی. افغانستان د ملګرو ملتونو سازمان له لوري په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې د بشري ودې په تړاو د خپور شوي راپور په نوملړ کې د ۱۸۹ هېوادونو له ډلې په ۱۷۰ مقام کې ځای درلود او له ۲۰۱۱ زېږدیز کال راوروسته بهرنۍ مرستې هم کمې شوي دي. په داسې حال کې چې کابل لا تراوسه هم د ودې لپاره رسمي

خالصې مرستې ترلاسه کوي، د زياترو کارپوهانو په باور د دغو مرستو له پايښت پرته به امنيتي او اقتصادي برخې سقوط وکړي، چې ورپسې به د دولت سقوط هم له ځان سره ولري. د دې ترڅنګ افغانستان د روڼتيا ښار نړيوالې ادارې د ۲۰۱۹ زېږديز کال د فساد په نوملړ کې د ۱۸۰ هېوادونو په ډله کې ۷۳ يم ځای خپل کړی دی. حکومت له بهرنيو مرستو په ناوړه ګټې اخېستنې تورن دی او په لوړه کچه رسواييو اوسنۍ او پخوانۍ ادارې له لړزې سره مخ کړې دي. [۲] له دې ډلې د اوسني حکومت له لوري له فساد سره د مبارزې په برخه کې ډېر کم اقدامات ترسره شوي دي، د لويې کچې فساد دوسيې تر دې دمه نه دي څېړل شوي او د لا زيات فساد د مخنيوي په تېره بيا د ولسمشرۍ دويمې دورې په ترڅ کې د لېږې کېدونکو چارواکو د فساد په موخه ډېر کم شمېر روښانه تګلارې موجودې دي.

په دې ډول شرايطو او حالاتو کې دا ډېره ستونزمنه ده چې هغه قوانين او پاليسۍ پلي شي، چې جګړه ييزو جرمونو، د بشري حقونو ښکاره سرغړونو، د قربانيانو حقوقو خونديتوب او پخوانيو دغه راز اوسنيو بې عدالتيو ته لاسرسی کوي.[۳] د ځواب ويلو اصل خو لا تراوسه هم پر خپل ځای پاتې دی او په دې برخه کې هېڅ راز اقدامات نه دي شوي. د قوانينو او پاليسو د نه پلي کېدو ترڅنګ د انتقالي عدالت په برخه کې د غوره تګلارې پر سر يوې اجماع ته په نه رسېدو کې پاتې راتلل د دولت او وسله والو ډلو له لوري د بشري حقونو سرغړونو ته په لاسرسي کې تر ټولو عمده خنډ دی.

د بن ۲۰۰۱ زېږديز کال تړون له بشري حقونو د سرغړونې او جګړه ييزو جرمونو په سيستماتيک ډول پېژندلو ارزښت ته اشاره کړې ده او د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسيون له رامنځ ته کولو يې هم يادونه کړې ده، چې ياد کمېسيون د انتقالي عدالت په باب يو لړ نوښتونه هم کړي دي. پردې سربېره له ياد هوکړه ليک راوروسته جګړه ييزو جرمونو ته د لاسرسي مروجه تګلاره د تېر هېرولو او پر راتلونکي تمرکز کولو (تېر په هېر) ده.

ښايي د حقيقت په ډاګه کول او د ځواب ويلو اصل ترويج مخکښانو يا مشرانو ته يو ډول ګواښ پېښ کړي او زيانمن يې کړي، له دې کبله يې هرکلی نه کېږي. امريکا متحده ايالت له دې وېرېدلي، چې له جګړه مارانو او نفوذ لرونکو پياوړو اشخاصو سره مخالفت ښايي له ترورېزم سره مرسته وکړي او بې ثباتي رامنځ ته کړي دغه راز د کورنۍ جګړې د يو بل پړاو پيلامه واوسي. له دې کبله د سياسي او نظامي مصلحتونو په ترڅ کې د انتقالي عدالت اغېزناکو مېکانېزمونو له لارې د قربانيانو او د هغوی کورنيو له لوري شکاياتونو ته د لاسرسي اړتيا له پامه غورځول شوې ده. په دې لړ کې عدالت د ځايي متنفذينو او وسله والو څخه د امريکا متحده ايالاتو په مشرۍ د جګړې او دولت جوړونې پروژې لپاره د مرستې قرباني شوی. نړيوالې ټولنې لنډمهاله سياسي او نظامي ثبات ته لومړيتوب ورکړی، له دې امله يې له هغو عاملينو سره جوړجاړي ته مخه کړې، چې د بشري حقونو پر نقض او جګړه ييزو جرمونو تورن دي.[۴]

د ۲۰۲۰ زېږديز کال د فبرورۍ مياشتې په ۲۹ مه نېټه له يو نيم کال مذاکراتو وروسته امريکا متحده ايالاتو او طالبانو د امريکايي ځواکونو پر مشروط وتلو هوکړه وکړه. د نورو مسائلو ترڅنګ د پورته يادې شوې هوکړې لاسليک د بنديانو خلاصون، بنديزونو لېرې کولو او د القاعدې په څېر له تروربستي ډلو سره د طالبانو له لوري د اړيکو پرېکون ژمنتيا ته لار هواره کړه. ياد هوکړه ليک د طالبانو او افغان حکومت ترمنځ بين الافغاني مذاکراتو ته هم لار هواره کړه.

که څه هم په دې څلوېښت کلنه جګړه کې ګڼ شمېر ځايي او نړيوالو لوبغاړو سر راپورته کړی او له منځه تللي دي، د دې څېړنې موخه دا ده څو له ۲۰۰۱ زېږديز کال راوروسته د جګړې پر ماهيت او ښکېلو اړخونو په تېره بيا طالبانو، حکومت او حکومت پلوه ځواکونو رڼا واچوي؛ د بشري حقونو پر سرغړونو وغږېږي او د انتقالي عدالت پلې شوې تګلارې راوسپړي؛[۵] د تاوتريخوالي ډک افراطيت پر راکمولو يا هم مخنيوي کې له تجربو وغږېږي، ترڅنګ يې د دې موخې په ترلاسه کولو کې د انتقالي عدالت پر ونډې خبرې وکړي. لومړی، دا څېړنه تاريخي شاليد راسپړي، ورپسې د هرې ډلې نظريات په ډاګه کوي ترڅنګ يې د سولې هوکړه ليک او سياسي جوړجاړي په ترڅ کې د چټکو او اوږدمهاله منځپانګې له مخې درنو سرغړونو ته د لاسرسي پر تګلارو رڼا چوي. دويم، دا څېړنه د انتقالي عدالت په وړاندې په لار کې پراتې ننګونې، خنډونه او فرصتونه تحليلوي، چې: د انتقالي عدالت په تړاو د هرې ښکېلې ډلې درک څه دی او پرېکړې له کومې ارادې سره ترسره کېږي. درېيم، پر هغو فرصتونو، ننګونو او تجربو خبرې کوي، چې ښايي په اوسنيو حالاتو کې د پلي کېدو وړ وي.

# د څېړنې تګلاره (میتودولوژي)

دا څېړنه په هېواد کې د هغو موضوعي څېړنو د لړۍ یوه برخه ده، چې د مدغم لېږد لپاره د څېړنو انسټیټیوټ (IFIT) له لوري له جګړې او تاوتریخوالي د افراطي وسله والو ډلو د واټن په پیداکولو کې د مناسبو انتقالي عدالت مېکانېزمونو او پالیسیو د ونډې په تړاو ترسره کېږي. دا څېړنه په افغانستان کې د انتقالي عدالت په باب د موجو او اړوند ادبیاتو ته پر پراخې کتنې ولاړه ده؛ چې له دې ډلې د افغان حکومت او نړیوالې ټولنې له لوړپوړو کسانو سره بېلا بېلې ۱۵ نیمه جوړښتي محرمې مرکې ترسره شوي؛[٢] د انتقالي عدالت په اړه د افغانانو لیدلوري او درک په تړاو د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) د ۲۰۱۲ زېږدیز کال له څېړنې معلومات اخېستل شوي دغه راز د جګړې له ټولو ښکېلو اړخونو سره د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري د مداومو خبرو اترو له اسنادو ګټه اخېستل شوې ده. د مرکو لپاره کارول شوی پوښتنلیک (لومړی مل ملیک وګورئ) په داسې بڼه چمتو شوی وو، چې وکولای شي د دې موضوعي څېړنې عمده پوښتنو ته چې په لاندې ډول دي، ځواب وویلای شي:

١. د افغانستان په جګړه کې ښکېلو اړخونو د تېر وخت ناوړه ګټو اخېستنو ته د لاسرسي په منظور له کومو لارو چارو ګټه واخېسته؟

٢. د روغې جوړې او انتقالي عدالت مسائل د دوامداره سولې په منځپانګه کې څه ډول تر بحث او څېړنې لاندې نیول کېږي؟

د موضوع ذاتي حساسیت او د مرکو مهال (هغه وخت د طالبانو او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ مذاکراتو جریان درلود) ته په کتو د دې څېړنې لیکوالانو د امنیتي دلایلو له کبله د ښکېلو اړخونو د نظامي او رسمي سیاسي استازو هویت خوندي ساتلی دی. مرکه کوونکي د پخواني حکومت او طالبانو له چارواکو، بشري حقونو فعالانو، مدني ټولنې فعالانو، ژورنالېستانو او د عدالت په برخه کې د فعالو نړیوالو سازمانونو له استازو او د دوی کارکوونکي دي. د دوی نظرونه پټ ساتل شوي خو د څېړنې په ترڅ کې ټول بیان شوي دي.

# د جګړې تاریخي شالید

څلور لسیزې کېږي، چې افغانستان په جګړه کې ښکېل دی. دا جګړه په ۱۹۷۸ زېږدیز کال کې د شوروي په ملاتړ له کمونېستي کودتا پیل شوې، ورپسې په ۱۹۷۹(۱۹۷۹– ۱۹۸۹) د شوروي اتحاد یرغل، د مجاهدینو خپل منځي جګړه (۱۹۹۲-۱۹۹۶)، د طالبانو واکمنۍ پرمهال داخلي جګړه (۱۹۹۶- ۲۰۰۱)، په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د امریکا متحده ایالاتو یرغل او بیا تر نن پورې د اوسني حکومت او طالبانو ترمنځ د جګړې ټول پړاوونه په ځان کې رانغاړي او تر نن پورې لا دوام لري. دا هېواد او وګړي یې د یو فعال دولت او عامه ادارو د سقوط شاهدان وو او په پراخه کچه د بشري حقونو تر پښو لاندې کېدل یې تحمل کړي دي. شوروي اتحاد له هغه وروسته پر افغانستان یرغل وکړ، چې د پخواني پاچا ظاهرشاه ۴۰ کلنې واکمنۍ ته په ۱۹۷۳ زېږدیز کال کې د یوې سپینې کودتا په ترځ کې د پای ټکی کېښودل شو. د جنرال داوود جمهوریت په ۱۹۷۸ زېږدیز کال کې د افغانستان خلکو ډموکراټیک ګوند په مشرۍ د شوروي په پلویتوب رانسکور شو او د افغانستان خلق دموکراتیک جمهوریت یې تاسیس کړ، چې تر ۱۹۸۷ زېږدیز کال پورې یې دوام وکړ.

د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند د واکمنۍ په وړاندې مخالفتونه هغه وخت راپورته شول، چې ځمکني اصلاحات او د ځمکو وېش په تړاو یې فرمانونه صادر کړل او د ودونو دغه راز مدني حقونو په برخه کې یې د عصري کولو نوي سیاستونو ته مخه کړه. مجاهدین، چې له دې اصلاحاتو سره مخالف وو، د پاکستان او امریکا متحده ایالاتو ملاتړ ترلاسه کړ، بل خوا شوروي اتحاد هم په زرګونه نظامي عسکر او مشاورین افغانستان ته واستول. بلاخره مسکو پر افغانستان تېری وکړ څو په ۱۹۷۹ زېږدیز کال کې د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند له رانسکورېدو مخنیوی وکړي. په دې لړ کې د دواړو اړخونو ترمنځ خونړۍ جګړه ونښته، چې پایله یې له یو میلیون د زیاتو وګړو مرګ ژوبلې دغه راز ایران او پاکستان ته تر نېږدې شپږ میلیونو پورې کسانو کډوالي شوه.

د شوروي اتحاد د تلفاتو په لوړېدو مسکو په دې هڅه کې شو څو د سیاسي جوړجاړي له لارې پرته له دې چې د ماتې احساس رامنځ ته کړي، له افغانستان څخه ووځي. د افغانستان خلق ډموکراټیک ګوند غړي ډاکټر نجیب الله احمدزي ته د چارو واګې وسپارل شوې څو د ملي روغې جوړې سیاست د اعلان له لارې، چې تر ډېره یې تکیه پر اقتصادي انګېزو وه؛ مجاهدین ارامه کړي او هېواد ته سوله راوړي. په دې لړ کې د افغانستان خلق جمهوریت څخه د افغانستان جمهوریت ته د هېواد نوم بدلون او د اسلامي هویت د بیاراژوندي کولو په ګډون د ټولنیزو اصلاحاتو په برخه کې یو شمېر اقدامات ترسره شول، خو د دوی هلو ځلو پوره نتیجه ورنکړه څو وکولای شي د شوروي ضد لښکرو او مختلفو مشرانو په وړاندې بریالي شي.[7]

په ۱۹۸۹ زېږدیز کال کې د شوروي اتحاد په وتو سره دا هېواد یوې سیمه ییزې جګړې ته ورټېل وهل شو، چې پایله یې د مجاهدینو ترمنځ کورنۍ جګړه شوه او معمولاً د شوروي اتحاد مخالفو لوېدیځ هېوادونو یا هم د ایران او پاکستان په څېر سیمه ییزو هېوادونو له لوري یې ملاتړ کېده. دا کورنۍ جګړه د ۱۹۹۰او ۱۹۹۲ زېږدیز کلونو ترمنځ د پراخو جنګي جنایتونو او بشري حقونو په نقض سره د اوج نقطې ته ورسېده.

د جهادي ډلو ترمنځ خپلمنځي جګړه د نارضایتۍ او په پایله کې طالبانو ته د زمینې مساعدېدو لامل شوه. طالبان په عربي ژبه کې د دیني زده کړو زده کوونکو ته ویل کېږي، چې په ۱۹۹۴ کال کې یې د ملا عمر تر مشرۍ لاندې نوې ډلې د پخوانیو جهادي جنګیالیو په ګډون سر راپورته کړ. دې ډلې د پاکستان او وروسته ورپسې د سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو په نظامي، مالي او سیاسي ملاتړ یې د ۱۹۹۶ زېږدیز کال تر سپټمبر میاشتې پورې د افغانستان پر ډېرې خاوره خپله ولکه او حاکمیت ترلاسه کړ. د دوی د واکمنۍ پرمهال که څه هم تاوتریخوالی تر ډېره بریده کم و، خو په هېواد کې له بشري حقونو د سرغړونې کچه ډېره پراخه وه.

د طالبانو حکومت د سختو قوانینو پلي کولو دغه راز له اسلامي شریعت د کلک او سخت قرائت له کبله د ملګرو ملتونو او نړیوالې ټولنې له لوري په رسمیت ونه پېژندل شو. په عام محضر کې اعدام، په صحرایي محکمه کې د غلو د لاسونو پرېکول، پر زنا د تورنو ښځو سنګسارول، د نجونو پر ښوونځیو بندیز او عامه ژوند ته د ښځو پر لاسرسي سخت محدودیتونه هغه عوامل وو، چې له کبله یې نړیوالې ټولنې، طالبان په رسمیت ونه پېژندل. پردې سربېره، طالبانو اسامه بن لادن ته چې د امریکا متحده ایالاتو له لوري د سپټمبر ۱۱ په بریدونو کې پر لاس لرلو تورن و، خوندي ځای ورکړ او پالنه یې کوله. د همدې دلایلو له کبله امریکا متحده ایالاتو او د ناټو غړو هېوادونو په ګډون یې متحدینو د طالبانو په وړاندې د ۲۰۰۱ زېږدیز کال په اکتوبر کې د تل پاتې ازادۍ تر نوم لاندې عملیات پیل کړل. دوی د شمال ټلوالې او افغانستان متحده نظامي جبهې په ملتیا، چې له طالبانو سره په دوامداره جګړه او مخالفت کې و؛ د طالبانو رژیم د دوو میاشتو په دننه کې رانسکور کړ.

له دې کبله تېرو څلورو لسیزو یوه پېچلې او خونړۍ داخلي جګړه رامنځ ته کړې ده، چې د نړیوال ملاتړ او لاسوهنې له کبله یې د وخت په اوږدو کې ښکېل اړخونه په دوامداره ډول بدل شوي دي. که څه هم د جګړه ییزو جرمونو او ښکېلو جرمي ډلو ته د مسوولیت راجع کېدلو به باب غوښتنې له ۱۹۸۰ لسیزې را په دېخوا مطرح کېږي، خو تر دې مهاله یې په نړیواله کچه یا هم د نورو اړخونو له خوا مناسب سیاسي ملاتړ نه دی پیدا کړی.

# په جګړه کې ښکيل لوبغاړي

د جګړې له ډګره ګڼ شمېر ځايي او نړيوالو لوبغاړو سر راپورته کړی او له منځه تللي دي. او سمهال ګڼ شمېر حکومت پلوي ځواکونه لکه افغان ملي امنيتي او دفاعي ځواکونه، نړيوال نظامي ځواکونه ( امريکا متحده ايالات او د ناټو غوڅ ماموريت ) او د حکومت په پلوی جنګېدونکي نورې ډلې چې د ملېشې په نوم هم مشهورې دي، د حکومت په پلوی جګړه کوي. د دولت ضد ډلې طالبان او د اسلامي دولت ډلې (داعش) د خراسان څانګې دي، چې له تېرو ۱۱ کلونو راهيسې له ۱۰۰,۰۰۰ د زياتو ملکي وګړو د مرګ ژوبلې او له دوو ميليونو د زياتو افغانانو بې کوره کېدو (نيمايي يې داخلي بې ځايه شوي دي ) مسوووليت پرغاړه لري. د دې څېړنې تمرکز د جګړې ښکېلو دوو عمده اړخونو په توګه پر حکومت او حکومت پلوو ځواکونو دغه راز طالبانو دی، چې او سمهال اراده لري څو د مذاکرې ميز ته کېني.

## حکومت او حکومت پلوي ځواکونه

د ۲۰۰۱ زېږديز کال د سپټمبر ۱۱ مې له بريد يوه اونۍ وروسته د امريکا د وخت ولسمشر جورج ډبليو بوش په بريد کې د ښکېلو او مسوولو ډلو په وړاندې له نظامي ځواک د کار اخېستل تاييد کړل. يوه مياشت وروسته د شمالي ټلوالې په مليتا د تلپاتې ازادۍ تر نوم لاندې د عملياتو لپاره امريکايي او نړيوال ځواکونه افغانستان ته د ننه شول، چې لومړيتوب يې له تروريزم سره مبارزه او وروسته بيا د ياغي ډلو ځپل او بالاخره د لنډمهاله ثبات رامنځ ته کول وو.

## د مليشاوو ناسمې کړنې

د ډېرو لسيزو په تېره بيا د طالبانو رژيم له رانسکورېدو وروسته افغان حکومت د دې جوګه نه و، څو پر تاوتريخوالي خپل انحصار وساتي. وسله والو ډلو د هېواد په کليو او بانډو کې واک او ځواک درلود، چې زياتره وخت له کومې وېرې او ولکې پرته دغه راز د سيستم له اړخه د رامنځ ته شوي معافيت او ځواب نه ويلو له کبله يې پر ځان باور لا پياوړی شوی وو. د ۲۰۰۱ زېږديز کال له تېري وروسته حکومت او نړيوال ائتلاف پر ځايي نيابتي ډلو (رسمي او شبه رسمي ملېشو ) غبرګ وکړ څو طالبانو ته ماته ورکړي، چې د ماموريت د استعجلاليت له کبله د ځايي متحدينو د بشري حقونو پر تورونو د سترګو پټولو لامل هم شو، څو وکولای شي د قدرت تعادل رامنځ ته کړای شي.[8] ځايي ملېشو ته د پام وړ سلا په دې موخه وويشل شوه، څو د طالبانو بيا سر راپورته کولو احتمال راکم کړي. ځينې ځايي قوماندانان چې پر ګڼ شمېر جګړه ييزو جرمونو تورن و، له لاسته ورغلي فرصت يې په خپله سيمه کې د خپل حاکميت ټينګښت او پياوړي کولو دغه راز د انساني قاچاق، اجباري اخراج او باج اخېستنې بانډونو د تقويې لپاره ګټه پورته کړه. له ملېشو څخه تمه دا وه، چې هغه سيمې پرېږدي، چې د نړيوالو مرستندويه ځواکونو تر ولکې لاندې وې، خو دوی دا کار ونه کړ. په ۲۰۰۳ زېږديز کال کې د نړيوالو مرستندويه ځواکونو د ماموريت له غځېدا څخه د امريکا متحده ايالاتو پخ او ورو ملاتړ ( چې کوربه نړيوالو لوبغاړو او تمويلوونکو ملتونو يې ملاتړ کاوه ) د ناامنۍ له غوړېدا سره مرسته وکړه.

بالاخره د نړيوالو امنيتي ځواکونو اقداماتو د هېواد په ګوټ ګوټ کې د دولت حاکميت د پراختيا مخه ډب کړه: له طالبانو او د دوی له پاتې شونو سره پر جګړې ټينګار او وروسته د وتلو ستراتيژي، چې نړيوالو ځواکونو له نارسمي ملېشو ملاتړ کاوه او د ځايي زورواکو او متنفذينو له لوري د دې ملاتړ ترلاسه کول له زور د انحصاري ګټې اخېستنې د شړېدو لامل شول او په وړاندې يې خنډ وګرځېدل. په ځينو حالاتو کې امريکا متحده ايالاتو د دوی له اغېزناک انسجام په مخنيوي کې مستقيمې ګټې لرلې. له ۲۰۰۵ زېږديز کال را په دېخوا امريکايي ځواکونو د افغانستان په سويل، سويل لوېديځ او ختيځ کې له ځينو نادولتي ملېشو ملاتړ کړی دی.[9]

د امریکا متحده ایالاتو پر افغان متحدینو د بشري حقونو د سرغړونو تورونه ډېره اوږده او له درده ډکه مخینه لري. حکومت پلوي ملېشې چې د امریکا متحده ایالاتو استخباراتي ادارو له لوري رزول شوي او ملاتړ یې کېږي له بشري حقونو د ښکاره سرغړونو او پرله پسې زور څخه د ګټې اخیستنې له کبله ډېرې مشهورې دي. یادې ملېشې د هېواد په لېرې پرتو سیمو او کلیو – بانډو کې عملیات ترسره کوي او ولکه دغه راز د نظم او ډسپلین ساتنه یې ډېره ستونزمنه ده، چې دا کار دوی ته لاره هواروي څو د خپلو ناوړه او شخصي موخو په لټه کې شي. د دې ترڅنګ ځینو جنګسالارانو ته په ملي امنیتي ځواکونو کې ډېر اړین بستونه ورکړل شوي دي. یوه بېلګه یې د قندهار پخوانی امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق دی، چې د ائتلافي ځواکونو له لوري یې د طالبانو پرضد په جګړه کې د اړین شخص په توګه اتلولي ترلاسه کړه. د ځورونې په وړاندې د ملګرو ملتونو سازمان کمېټې د جګړه ییزو جرمونو له کبله د نوموړي پر عدلي تعقیب ټینګار درلود.[10]

په ۲۰۱۸ زېږدیز کال کې د طالبانو له خوا د نوموړي له وژل کېدو وړاندې، جنرال عبدالرازق په زرګونه جنګیالي په واک کې لرل او د افغان قوماندانو د ځنځیر تر چتر لاندې یې فعالیت کاوه، خو ډېر کم ځواب ویونکی و یا یې هېڅ مسوولیت منلو ته غاړه نه اېښوده. له طالبانو د نوموړي کرکې او له طالبانو سره په یې جګړه کې یې د بې رحمۍ شهرت نوموړی د بهرنیو ځواکونو په منځ کې ډېر محبوبیت ته ورساوه، خو دی تر ډېره د نشه یي توکو پر قاچاق، فساد، خپلسرو وژنو، ځورونې او ناقانونه زندانونو لرلو تورن و.[11] د نوموړي د دې کړنو قربانیان زیاتره وخت پښتانه و، چې د طالبانو تر نوم لاندې وژل کېدل. څېړونکې ژورنالېسټ ماتیو ایکینز لیکلي، چې: نوموړي د خپلو دښمنانو په وړاندې د یاغیانو او تروریستانو په نوم له انتقامي عدالت ګټه پورته کوله.[12] له دې سره سره، هغه او ورسره تړلې ملېشا یې د امریکا متحده ایالاتو نظامي روزنه او ملاتړ ترلاسه کول.[13]

که څه هم له بشري حقونو د سرغړونې په برخه کې د امریکا متحده ایالاتو د متحدینو قضیې له یو شخص ډېرې زیاتې دي، خو د قندهار ولایت امنیه قوماندان په توګه د جنرال عبدالرازق یادونه ځکه ځانګړې ده، چې د ملېشاوو ناقانونه کړنو ته اشاره کوي. د پښتانو په وړاندې په جنایتونو کې د نوموړي ونډه، چې ښایي له طالبانو سره تړاو ولري یا نه، د واشنګټن په وړاندې د طالبانو د دې لیدلوري په درک کې مرسته کوي، چې واشنګټن مستقیماً له هغو ځواکونو ملاتړ کوي او روزنه ورکوي، چې د پښتنو په وړاندې جنایتونه ترسره کوي. له دې کبله دا کومه د تعجب خبره نه ده، چې طالبان د سولې هر ډول ممکن هوکړه لیک په ترڅ کې د امریکایي ځواکونو وتل اړین ګڼي.

د طالبانو یا نورو مخالفینو د شکنجې او ځورونې دغه راز خپلسرو وژنو کې د ملېشاوو د لاس لرلو او له ځواب ورکړې د معافیت ګڼ شمېر بېلګې شته دي.[14] د ملېشاوو بله ډله چې د راپورونو له مخې په ورته ډول سرغړونو کې ښکېله ده، د ولسمشر پخواني دویم مرستیال عبدالرشید دوستم تر قوماندې لاندې ډله وه، چې په دې وروستیو کې د یوې سیاسي معاملې په ترڅ کې د مارشالۍ رتبه هم ورکړل شوه. عبدالرشید دوستم د شمال ټلوالې غړی و او له امریکا متحده ایالاتو سره یې د سپټمبر له ۱۱ وروسته د طالبانو په وړاندې په نظامي عملیاتو کې مرسته وکړه. د نوموړي تر قومنداني لاندې د شمال ټلوالې ځواکونو په شمال کې ډله ییزې وژنې وکړې؛ په دشتې لیلی کې ډله ییزې هدیرې او قبرونه په ډاګه کوي، چې له جګړې څخه په سلګونه نیول شوي طالب بندیان یا د ساه بندولو یا هم مرمیو وارولو له کبله وژل شوي دي.[15] په دغو قتلونو کې د امریکایي ځواکونو د لاس لرلو تورونو او له دې کبله دې قبرونو ډېر پام ځان ته اړولی دی، چې د ۲۰۰۱ زېږدیز کال وروسته د قدرت جوړښت تر سیوري لاندې جدي سرغړونې په ډاګه کوي. د بشري حقونو اړوند مرستندویه طبي ډلو، چې په لومړنیو ازمایښتونو کې یې مرسته کړې وه، له ولسمشر حامد کرزي او د ملګرو ملتونو سازمان له امنیت شورا وغوښتل چې یادې سیمې خوندي وساتي. د دې کار په کولو او د دې خبرې په تاییدولو، چې په سلګونه اسیر طالبان وژل شوي وو، له دې خبرې هرکلی په ډاګه کاوه، چې دولت د انتقالي عدالت پلي کېدو ته چمتو دی.

## د شپې چاپې

د شپې له مخې چاپې اچول هغه نظامي تاکتیک دی، چې د امریکا متحده ایالاتو او افغان ځانګړو ځواکونو له لوري د طالبانو په څېر وسله والو ډلو په وړاندې تري ګټه اخیستل کېږي. د امریکا متحده ایالاتو او افغانستان ترمنځ د ۲۰۱۵ زیږدیز کال دوه اړخیز امنیتي تړون له مخې دا چاپې د ائتلافي ځواکونو تروریزم ضد عملیاتو او موخو یوه اړینه برخه ده. په شپه کې له لیدونکو توکو په ګټې اخیستنې نظامي ځواکونه په زور د ملکي وګړو کورونو ته د ننه کېږي او د دښمن شکمن جنګیالي وژني یا نیسي. دا عملیات ډېر جنجالي او بحث راپاڅونکي دي، ځکه ملکي وګړو ته زیان اړوي او له افغاني کلتور سره په ټکر کې دي. دا هغه تاکتیکونه دي، چې د افغانانو

له لوري د توهین په توګه ورته کتل کېږي، ځکه امنیتي ځواکونه په داسې مهال کې کورونو ته د ننه کېږي، چې ښځې هلته موجودې وي یا هم په خپلو عملیاتو کې له سپیانو ګټه اخلي. د ډېرو کلونو لپاره امریکا متحده ایالاتو له خپلو افغان متحدینو سره په ګډو عملیاتو کې د دا ډول چاپو مشري کوله. په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې ولسمشر اشرف غني په یادو چاپو د ۲۰۱۲ کال مهلت لغوه کړ، چې له هغه وروسته بیا حکومت او حکومت پلوو ځواکونو د دې چاپو زیاتره برخه مشري په خپل واک کې واخېسته.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان مرستندویه ماموریت (یوناما) د مستند راپور له مخې هغه شپنۍ چاپې چې د افغانستان ملي امنیت ریاست ځانګړو ځواکونو او حکومت پلوه ملېشو یا د خوست ولایتي ځواکونو او شاهین ځواکونو په ځېر وسله والو ډلو له لووري پرمخ وړل شوي دي، د افغان ملي اردو له لوري د ترسره شویو چاپو په پرتلې یې ډېر زیات تلفات او د مرګ کچه له ځان سره لرله.[12] دا راپور وړاندې زیاتوي، چې ښایي یادې ډلې د غوره قوماندې او کنټرول جوړښتونو له کمښت سره مخ وي، د عملیاتو روښانه تګلارې ونه لري یا هم د ناسمو کړنو له کبله هېڅ سزاء نهویني. د بشري حقونو څار ډلې ۱۴ هغه قضیې مستند سازي کړې، چې بهرنیو او افغان ځواکونو د ملکي وګړو پر کورونو شپني عملیات ترسره کړي او د هغوی د کورنۍ غړو د وژنې او ځورونې لامل ګرځېدلي دي.[17]

دا کومه نوې موضوع نه ده. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان مرستندویه ماموریت (یوناما) او د مدني ټولنو بنسټونو دوارو په دې اړه خپلې اندېښنې په ډاګه کړې دي. په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې یوناما د داسې ډول عملیاتو په ترڅ کې د ۳۶۰ ملکي تلفاتو قضیې مستند سازي کړې دي. له دې وړاندې د واشنګټن پوسټ د ۲۰۱۰ زېږدیز کال د راپور له مخې شپني عملیات کولای شي د بلواګرۍ په زیاتوالي او د بلواګرۍ اور ته د تېلو په شیندلو کې مرسته وکړي. په همدې ترتیب په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې د پرانېستې ټولنې بنسټونو د راپور له مخې د شپنیو عملیاتو له کبله د افغانانو لیدلوری دا دی، چې نظامي ځواکونه له شپنیو چاپو څخه د بې ګناه ملکي وګړو د وژنو، ځورونو او ازارولو لپاره ګټه اخلي.[18]

یوازې شپني عملیات د عامه خلکو د نارضایتۍ لامل نه دی. افغان دولت په دې کې پاتې راغلی څو د خپلو امنیتي ځواکونو له لوري د ترسره شویو جګړه ییزو جرمونو په تړاو څېړنه وکړي. ډېر ځله د څېړنو ترسره کولو ژمنه شوې، خو هېڅکله هم له څېړنو ترلاسه شوي موندنې له خلکو سره نه دي شریکې شوي او د ترسره شویو تورونو په باب هېڅوک هم تورن نه دي پېژندل شوي.

## هوايي بريدونه

افغان حکومت او امریکا متحده ایالاتو په لوړه کچه له هوایي بریدونو ګټه پورته کړې، چې د زیاتو ملکي تلفاتو اوښتو لامل ګرځېدلي. د ملګرو ملتونو سازمان مرستندویه ماموریت یا یوناما د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په لومړۍ ربعه کې هوایي بریدونه د ملکي تلفاتو عمده لامل ګڼلی دی.[19]

د ډېرو درناکو بېلګو له ډلې یوه یې د ۲۰۱۵ زېږدیز کال په اکتوبر کې د کندز ولایت د سقوط پرمهال د امریکایي ځانګړو هوایي ځواکونو (U ۱۳۰-AC) ډلګۍ له لوري د کندز بې پولې ډاکټرانو پر روغتون هوایي برید وو. د یاد برید په پایله کې د طبي پرسونل، ناروغانو او له ناروغانو سره د راغلو کسانو په ګډون لږ تر لږه ۴۲ کسان ووژل شوه او له ۳۰ زیات کسان ټپیان شول.[20] دې ته ورته په یوه بل برید کې د ۲۰۱۸ زېږدیز کال د اپرېل په ۲ مه نېټه افغان هوایي ځواکونو د طالبانو لوړپوړي مشران په کندز کې هغه مهال تر هوایي برید لاندې راوستل، چې د یوې دیني مدرسې ترڅنګ د دستاربندۍ مراسمو لپاره د سلګونو طلب علمانو ترڅنګ راټول شوي وو، چې د ۷۹ ماشومانو په ګډون ۳۰ کسان ووژل شول او ۲۵ نور ټپیان شول. یوناما په ۲۰۱۴ زېږدیز کال کې ۱۲۲ ملکي وګړو ته د مرګونو تلفاتو اوښتو قضیې مستند سازي کړې دي؛ دا شمېر په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې ۱٬۰۴۵ ته لوړ شو، چې زیاتره یې د امریکا متحده ایالاتو نظامي ځواکونو د عملیاتو په ترڅ کې اړول شوي دي.[21]

## فساد او د دولت له لوري اقتصادي جرايم

په ۲۰۱۲ زېږديز کال کې له فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز پر جوړېدو سربېره، د فساد په برخه کې يوازې دوره يي نيونې کېږي او په فساد تورن چارواکي تر عدلي تعقيب لاندې نيول کېږي ترڅنګ يې ډېر محدود شمېر په فساد تورن ملکي او نظامي چارواکي له دندو ګوښه کېږي. فساد په ډېره ښکاره يوه لويه ستونزه ده. د افغانستان بيارغونې په چارو کې د امريکا متحده ايالاتو ځانګړي سرمفتش (سيګار) د ۲۰۱۸ کال اکتوبر د راپور د تاييد له مخې له فساد سره د مبارزې عدلي او قضايي مرکز د لوړپوړو چارواکو په عدلي تعقيب کې پاتې راغلی دی.[۲۲] د ۲۰۱۹ زېږديز کال د ولسمشرۍ له ټاکنو وروسته د لوړپوړو چارواکو د فساد تورونو زياتوالی موندلی، چې دا تورونه په کمپاينې مبارزو کې د ولسمشرۍ نوماندانو له لوري د زياتو لګښتونو رانيولې بيا د حکومت پر غړو لګول شوي دي.[۲۳] د سيګار ۲۰۲۰ کال د جولای مياشت په راپور کې راغلي، چې د ولسمشر غني تر مشرۍ لاندې له ۲۰۱۹ کال وروسته د دويمې دورې حکومت له فساد سره د مبارزې په برخه کې ډېره کمه ژمنتيا لري.[۲۴]

د مجازاتو د پلې کېدو په برخه کې پېکه پرمختګ نه يوازې د فساد له مرتکبينو سره مرسته کړې، چې په خپلو مقامونو کې ځان غښتلی کړي، بلکې دوی ته يې د ځمکو ناقانونه غصب په څېر د نورو جرايمو لپاره هم لار هواره کړې ده. که څه هم د ځمکو غصب د کورنۍ جګړې پرمهال هغه وخت پيل شو، چې د هندوانو او سکانو اړوند ځمکې ونيول شوې، خو له ۲۰۰۱ زېږديز کال راوروسته يې ډېر ترويج وموند او ډېر زورواکي په دې ډول کړنو کې ښکېل دي. د ۲۰۰۳ زېږديز کال په سپټمبر کې کله چې ۱۰۰ پوليسو په شېرپور کې ۳۰ کورونه ړنګ کړل، يو شمېر لوړپوړو دولتي چارواکو ياده ځمکه په خپلو کې سره ووېشله.[۲۵] دا يوازېنۍ بېلګه نه ده: د پارلمان د کمېسيون ۲۰۱۳ کال ارزونې راپور په ډاګه کوي، چې لوړپوړو چارواکو د ۷ ميليارده امريکايي ډالرو په ارزښت ځمکه غصب کړې وه.[۲۶] د افغانستان د ازادۍ کور بنسټ له لوري په يو خپلواک راپور کې راغلي، چې ۱,۹۲۲,۴۱۱ ځمکه جريبه په ۱۸ ولايتونو کې په ناقانونه توګه نيول شوې ده.[۲۷]

د افغان سولې لپاره د امريکا متحده ايالاتو ځانګړي استازي او د افغانستان لپاره د امريکا متحده ايالاتو پخوانی سفير ښاغلی زلمی خليلزاد ليکي، چې نوموړي ګڼ شمېر سيمو ته په ماموريت تللی دی څو جګړه ماران دې ته وهڅوي، چې د سياسي مقامونو د ترلاسه کولو په بدل کې له سياسي پروسې سره يوځای شي او خپلې ملېشاوې تسليم کړي.[۲۸] هغه څه چې نوموړي يې يادونه نه ده کړې دا دي، چې د کانونو غلاوو، فساد، ځمکو غصب او نشه يي توکو د قاچاق په ګډون په زياترو اقتصادي جرايمو کې د ښکېلتيا او دوام لپاره له مجازاتو د معافيت فرهنګ په ښه جګړه مارانو ته د امتياز په ډول ورکړل شوي دي. له مجازاتو معافيت او د دغو جرايمو په څېړنه او عدلي تعقيب کې پاتې راتلو (د بشنې نړيوال قانون په استناد، چې په دې څېړنه کې مو په وروسته برخه کې پرې بحث کړی) د دې حالاتو لپاره زمينه مساعده کړې، چې دوام وکړي او ښايي له افغان ځانګړي پوليسي ځواک ته يې دا جرائت ورکړی وي، چې په زوره د دوی ورکولو، اجمالي اعدامونو او تر توقيف لاندې کسانو د ورځنۍ شکنجې لامل شي.

# طالبان

## د طالبانو رېښه

طالبان د پښتني قبيلې ځوانان دي، چې د افغانستان په سويل او ختيځ کې واکمنه قبيلوي ډله ده، په ۱۹۹۴ زېږديز کال کې يې د مجاهدينو خپلمنځي جګړو په ځواب کې سر راپورته کړ، چا چې د امريکا او پاکستان په ملاتړ د شوروي اتحاد پرضد جګړه وکړه. له طالبانو په لومړيو کې ځکه هرکلی وشو چې ګڼ شمېر ملېشې يې له منځه يوړې او د جهادي تنظيمونو ترمنځ يې د ځلورو کلونو خپلمنځي جګړو وروسته ثبات رامنځ ته کړ. دوی د ۱۹۹۴ زېږديز کال په نوامبر مياشت کې د افغانستان سويلي ولايت قندهار ونيو، چې هلته يې تاوتريخوالي او پراخو جرايمو ته د پای ټکی کېښود. دوه کاله وروسته کابل ته ننوتل څو د وخت جمهور رئيس برهان الدين رباني چې په خټه تاجيک و او د نورو جهادي مشرانو له لوري د مفسد په سترګه ورته کتل کېدل، لېرې کړي او خپل اسلامي امارت يې تاسيس کړ.

طالبان چې د اوسني حکومت مشروعیت په رسمیت نه پېژني، له اسلامي شریعت څخه یې د خپل قرائت له مخې د حکومت بنه رامنځ ته کړه، چې د وېرې او تاوتریخوالي لامل وګرځېد. دوی د خپلې خوښې اسلامي قوانین (حدود ) پلې کول. هغه جنایتونه چې پخوانیو ډلو ترسره کړي وو، د دې ډول اسلامي حکومت د مشروعیت او تاییدي لپاره ترې د دلیل په توګه ګټه اخیستل کېده.[۲۹]

د طالبانو له لوري د زیات قدرت په ترلاسه کولو سره د شمال ټلوالې ائتلاف، چې معمولاً په شمال کې له مېشتو ګوندونو جوړ شوی و، له دوی سره بیا ځلې په مخالفت کې سر راپورته کړ. په دغو ګوندونو کې اسلامي جمعیت، اسلامي اتحاد (په کابل او پروان کې)، ملي جنبش، وحدت ګوند، او نظار شورا شامل وو. د افغانستان شمالي ولایتونو او مرکزي افغانستان د خاورې ولکې پر سر د طالبانو او شمال ټلوالې ترمنځ جګړې د زیاتو جنایتونو لامل شوې. یوې خوا طالبانو د زیاترو قومي او مذهبي اقلیتونو خلک ووژل، کورونو پرېښودو ته یې اړ کړل، ویې ځورول او ویې نیول؛ په بدل کې یې د شمال ټلوالې زیاترو قومندانانو هم په ورته اقدام لاس پورې کړ: ازبیک او هزاره ملېشاوو په شمال کې پښتانه ووژل، ویې ځورول او د کورونو پرېښودو ته یې اړ کړل.[۳۰] په دې دوران کې د طالبانو له لوري د مشهورو ترسره شویو جنایتونو له ډلې د ۱۹۹۸ کال په اګست میاشت کې د مزار شریف پېښې او د ۲۰۰۱ کال په جنوري میاشت کې د مرکزي سیمو په بامیانو کې د طالبانو جنایتونو ته اشاره کولای شو، چې په زرګونه خلک یې په صحرایي ډول اعدام کړل.[۳۱] دواړه پېښې چې معمولاً یې د تاجیکانو، هزاره ګانو او ازبیکانو له ډلې غیرپښتانه په نښه کړل، په یاد وخت کې په پراخه کچه د قومي او مذهبي حذف په توګه ورته کتل کېدل.

د طالبانو رژیم په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د امریکا په مشرۍ د نړیوالې نظامي مداخلې په ترڅ کې رانسکور شو. د یاد رژیم له لوري یې هم په وړاندې کوم مقاومت ونه شو، ځینې غړي یې په پاکستان کې پټن ځایونو ته لاړل، خو ځینې نور یې بېرته خپلو کلیو او کورونو ته راستانه شول. امریکا متحده ایالاتو د دوی ګڼ شمېر مشران د ګوانتانامو زندان ته ولېږل. په یاد وخت کې د روغې جوړې هېڅ پلان عملي نه شو، پاتې لا دا چې په اړه یې تصور یا خبرې وشي. د روغې جوړې پرځای د دې ډلې او خلکو په وړاندې له تاوتریخوالي ګټه اخیستل د هغو عواملو له ډلې وو، چې د ۲۰۰۰ مې لسیزې په منځنیو کې یې د طالبانو بیا سر راپورته کولو ته لار هواره کړه. د طالبانو په بیا سر راپورته کولو کې نور دخیل عوامل د افغان او ناټو ځواکونو له لوري د عملیاتو پرمهال د مسوولیت منلو اصل کمښت، د کورونو بمبارد، او د طالبانو له بندیانو سره له شکنجې، ځورونې او وحشت ډک غیرانساني چلند و. د طالب قوماندانانو او پخوانیو جهادي جګړه مارانو ترمنځ ځایي شخړو د بیا راپورته شویو طالبانو څخه د ملاتړ په راجلبولو کې د پام وړ رول درلود.

پردې سربېره سیمه ییز عوامل هم له پامه نه شي غورځول کېدای. ایران له طالبانو څخه د افغانستان په لوېدیځ کې د امریکا پر نظامي اډو د بریدونو لپاره ګټه پورته کړه، په داسې حال کې چې پاکستان طالب مشرانو ته په خپله خاوره کې امن پټن ځایونه ورکړل او د دودی اصلي سیاسي شوراګانې (د کوېټې شورا او د پېښور شورا ) د طالبانو هغه دوې مشهورې شوراګانې دي، چې د پاکستان دوو ښارونو په نوم، نومول شوي دي او په همدې ښارونو کې مېشتې دي.

## د طالبانو قرائت او روایت

طالبان په اسانۍ سره یوازې له ایډیولوژیکي اړخه یا هم د یوې بې ساري قومي ډلې په توګه نه شي تعریف کېدای. ځکه دوی په بېلا بېلو اقوامو او ټولنو کې ټولنیز ملاتړ له ځان سره لري. د دوی د تاوتریخوالي عامه ماهیت ته په کتو دا ډېره معمول ده، چې هغه عوامل راوسپړل شي، د کومو له کبله چې خلک دې ته اړ کېږي څو له یاد خوځښت سره یوځای شي.

لومړی، په پیل کې له طالبانو سره د یو ځای کېدو لومړنۍ انګېزه دیني ارادت او جهاد وو ( زیاترو جنګیالیو جهاد ته د یوې دیني وجیبې په سترګه کتلې څو د بهرنیو اشغالګرو ځواکونو په وړاندې جګړه وکړي )، له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راپه دېخوا بیا د زیاترو جنګیالیو د جلب او جذب لپاره انګېزه له سیاسي نظام محرومیت، د نظامي اشغال په وړاندې انتقام ته رادانګل، له واک څخه د ناوړه ګټې اخېستنې او له مجازاتو څخه د معافیت په وړاندې مخالفت، اقتصادي اړتیاوې او اجباري جذب ته اشاره کولای شو.[۳۲] خو دا ډېره ستونزمنه ده چې دیني او سیاسي عوامل یو له بله په دې ځای کې سره بېل کړو، ځکه دواړو عواملو د ملي هویت، ملت پالنې او حاکمیت د پوښتنو په بڼه په یو مهال د دوی په سر راپورته کولو کې ونډه درلوده.

دویم؛ هغو کسانو چې په جګړه کې یې د خپلې کورنۍ غړي یا دوستان له لاسه ورکړي دي د غچ اخیستنې په لټه کې راوتي او د دې کار لپاره یې له طالبانو سره یوځای کېدل تر ټولو غوره او اسانه لار ګڼلې ده. د بېلګې په توګه د افغان او امریکایي ځواکونو له لوري د هوایي بریدونو او شپنیو چاپو په وراندې غوسې د طالبانو لپاره د نویو جنګیالیو په چټک جلب او جذب کې مرسته کړې ده. په دې برخه کې احساساتو او زیانمنیدو د پام وړ ونډه اداء کړې ده.[۳۳]

د فردي هڅونې ترڅنګ هغه روایت چې په ټولنه کې د طالبانو په اړه د دوی د تبلیغ په ترځ کې حاکم شوی، دا دی چې دوی یوه مبارزه دله ده چې له فساد سره مبارزه کوي او د اسلام دین یې د راټولېدونکي محور په توګه معرفي کړی دی. که څه هم پر طالبانو سربېره د اسلامي دولت ډلې (داعش) د خراسان څانګې په ځېر نورې کوچنۍ ډلې هم فعالیت لري، خو طالبان په هېواد کې هغه یاغي ډله ده، چې فعالیتونه یې ډېر ښکاره دي.

## د طالبانو جوړښت

اټکل دا دی، چې طالبان شاوخوا له ۶۰ تر ۷۵ زرو جنګیالي لري (تر ټولو لوړ اټکل یې ۸۵,۰۰۰ جنګیالي دي) د دې شمېر نیمایي یا له نیمایي اندازې زیات نور یې اسانچاري او غیرجنګیالي غړي دي، چې په ټوله کې یې شمېر د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په منځنیو کې ۱۰۰,۰۰۰ ته رسېده. په بیا ځل سر راپورته کولو سره یې ځان ډېر منظم او باډسپلینه معرفي کړ.[۳۴] د دوی په جوړښت کې تر ټولو واکمن او لوړ ارګان د مشرتابه شورا ده، چې د څو کمیسیونونو او ارګانونو په سر کې ځای لري. د ملګرو ملتون سازمان د تحلیلي ملاتړ او پر بندیزونو د څار ټیم په وینا د طالبانو په سیاسي او نظامي کمیسیونونو کې داخلي اختلافات ډېر زیات شوي دي. د یادونې ده، چې د لوړپوړو چارواکو او ټیټ پوړو چارواکو دغه راز جنګیالیو ترمنځ یې سخت اختلافونه او نارضایتی شته دي، ځکه جنګیالي په دې ناخوښ دي، چې مشران یې په بهرنیو هېوادونو کې د جګړې له لومړی کرښې لېرې خپل ارام او له عیش و نوش ډک ژوند تېروي.

د ځینو په باور له غرونو څخه د دوی د راکوزېدو او تنبېتې عمده دلیل همدا پورته یاد شوي اختلافات دي. د قطر هېواد په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر مشران له امریکا متحده ایالاتو او نورو نړیوالو سره تعامل او روغې جوړې ته د یوې اړتیا په سترګه ګوري، خو طالب جنګیالي بیا له دوی سره هر ډول معامله او تعامل په ګټه نه بولي. له دې سره سره بیا هم ټول طالب جنګیالي د خپل مشرتابه له اوامرو سرغړونه نه کوي او پیروي یې کوي.[۳۵]

## د طالبانو له لوري لویې سرغړونې

طالبانو په ۲۰۰۷ زېږدیز کال کې په بیا ځلي سر راپورته کولو سره د افغان حکومت او نړیوالو متحدینو په وړاندې یې په جګړه کې د وېرولو، ګواښلو، فزیکي زور (د تښتونې او هدفي وژنو په ګډون) تاکتیکونو ځانمرګي بریدونو ته مخه کړه او د ملکي وګړو په وړاندې یې له تروریستي تاکتیکونو په ګټې اخیستنې بیا ځل د جګړې ډګر ته راودانګل. د همدې کړنو له کبله د زیاترو افغانانو غوښتنه دا ده، چې له مسوولو کسانو سره باید حساب وشي.

ځانمرګي بریدونه او نور چاودېدونکي توکي د ملکي تلفاتو تر ټولو عمده لامل دی، چې د طالبانو له لوري ورته اړول شوي دي، ورپسې ځمکنۍ جګړې او هدفي وژنې دي، چې د ملکي تلفاتو اوښتو لامل ګرځېدلې. د یوناما د راپور له مخې په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې ۲۲ سلنه ملکي تلفات د غیرحکومتي ډلو له لوري اړول شوي وو. له دې ډلې ۴۲ سلنه یې د ځانمرګو او نورو بریدونو په ګډون د چاودېدونکو توکو له کبله وو. په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې د چاودېدونکو توکو له کبله د رامنځ ته شویو تلفاتو دا اندازه ۴،۳۲۲ وګړي وو.[۳۶]

که څه هم طالبانو د خپل تاریخ په اوږدو کې یو لړ مرستې ترلاسه کولې، خو بیا هم دوی قصداً بشردوستانه ډلې او طبي کارکوونکي په نښه کړي دي. ښایي یو دلیل یې دا وي، چې دوی مرستندویه ادارو او د هغوی کارکوونکو ته د بې پرې او بشردوستانه ډلو په توګه نه ګوري، بلکې د دوی په نظر یادې ډلې خپلې پټې اجنډاوې لري.[۳۷] یادې ډلې ژورنالېستان او د مطبوعاتي ډګر کارکوونکي هم په مرګ ګواښلي څو له دې لارې پر دوی فشار راوړي، چې د طالبانو ناوړه کړنې تر رسنیز پوښښ لاندې رانه ولي.[۳۸] دا سې ښکاري، چې دا ډول هدفي وژنې د هغې ستراتیژۍ یوه برخه وي چې ځایي خلک ووېروي او اړمنو وګړو ته د ملي او نړیوالو مرستو له رسولو مخنیوی وکړي.

پردې سربېره، طالبانو د ملکي مامورینو، قبیلوي مشرانو او روحانیونو دغه راز دیني علماوو په ګډون هغه کسان هم په نښه کړي چې له حکومت سره یې تړاو درلود. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۸ زېږدیز کال په جولای میاشت کې طالبانو له امبولانس په ګټې اخېستنې د کابل ښار په زړه کې یو موټر بم برید ترسره کړ، چې زیاتره حکومتي دفترونه هلته موجود دي. په دې برید کې ۹۵ ملکي وګړي ووژل شول او ۱۵۸ نور ټپیان شول.[۳۹] د دې ترڅنګ د ټاکنو په څېر د مدني او سیاسي فعالیتونو د زیاتوالي په وخت کې بریدونه هم زور اخلي. د بېلګې په توګه د ۲۰۱۹ زېږدیز کال د ټاکنو په ترڅ کې او هم د ټاکنو په ورځ د بمي چاودنو د لړۍ خبر ورکړل شوی وو، څو عام وګړي د رایې اچونې مرکزونو له تګ وویروي او منع کړي او رایه اچوونکي په ټاکنو کې له ګډون د مخنیوي په موخه وېرول شوي وو. دغه راز د ۲۰۱۴ زېږدیز کال په ټاکنو کې هم طالبانو د ټاکنو په ورځ لږ تر لږه د ۷ رایه اچوونکو ګوتې پرې کړي وې. ورپسې د ۲۰۱۸ زېږدیز کال د پارلماني ټاکنو پرمهال بیا هم دوی له ۸ کسانو د رایې اچونې د جزاء په بڼه ګوتې پرې کړې.[۴۰] دا چې طالبان د حکومت مشروعیت په رسمیت نه پېژني، نو هر ډول ټاکنې نامشروع ګڼي.[۴۱]

طالبانو هڅه کړې څو د اسلامي دولت ډلې (داعش) له خراسان څانګې ځان بېل وښايي، چې د وحشت له کبله ډېرې نیوکې پرې کېږي. د بېلګې په توګه د پوځ یو مشر په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې ویلي وو، چې: داعش هرهغه څوک له کومو شواهدو او اسنادو پرته وژني، چې فکر کوي د دوی ملاتړ نه دی. ان تر دې چې دوی ماشومان او سپین ږیري هم وژني، چې موږ ورته درناوی لرو او ساتنه یې کوو.[۴۲]» پردې سربېره د ۲۰۱۹ زېږدیز کال په مې میاشت کې په کابل کې د بې پولې ډاکټرانو پر یو زېږنتون په برید کې طالبان په لاس لرلو تورن ګڼل کېدل، که څه هم پړه یې داعش په غاړه واخېسته. د سرچینو له قوله طالبان او د اسلامي دولت ډلې خراسان څانګه دواړه د پراخ «جهادي خوځښت» زېږنده دي، چې تر خپلې ولکې لاندې سیمو کې یو له بل سره دښمني لري خو د دواړو موخه یو یانې د دولت په نښه کول دي.[۴۳]

## له ښځو او نجونو سره یې چلند او د جنسیت له مخې تاوتریخوالی

ښځې او نجونې د جګړې کلونو په ترځ کې د جګړې بېلا بېلو ډلو له لاسه د خپلو حقوقو تر پښو لاندې کېدو ځخه کړیږي. پردې سربېره، د نورو ډلو په پرتلې بیا له ښځو سره د طالبانو چلند هم د خپل واکمنۍ پرمهال او هم له ۲۰۰۱ زېږدیز راوروسته په بې ساري ډول له تاوتریخوالي ډک دی، ځکه د ښځو په وړاندې له توپیري چلن ګټه پورته کوي ان تر دې چې د دوی په لباس کې کار لري.

نجونو ته د طالبانو واکمنۍ پرمهال له پېغلتوب وروسته ښوونځیو ته د تګ اجازه نه وه. عامه ځایونو او په سیاسي پروسو کې د ښځو ګډون د ګوابښونو او ځورونو له کبله محدود شوی و. له کوره د ښځو په یوازې وتلو او عامه ځایونو کې ګرځېدو باندې ټولنیز محدودیتونه لا زیات وو.

له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راوروسته د ښځو په پلوی اساسي قانون په شتون کې (چې ۲۵ سلنه د پارلمان چوکۍ یې ښځې ته ځانګړې کړې دي او ۳۰ سلنه ونډه یې په عامه ادارو کې ورکړې ده) او حکومت یې تر ډېره بریده ملاتړی دی، د رایې اچونې لپاره د ثبت نام کوونکو شمېره په ۲۰۱۰ کې له ۴۰ سلنه څخه په ۲۰۱۸ کال کې ۴۳ سلنه ته راټیټه شوه.[۴۴] د تجاوز، قتل او ناموسي وژنو په ګډون د ښځو او نجونو په وړاندې جنسیتي تبعیض د ناامنۍ، قانون حاکمیت کمزورتیا او ناوړه سنتي اقداماتو له کبله همداسې ادامه لري. په اړینو سیاسي برخو کې واک لرونکې ښځې زیاتره په ولایتي یا هم ملي کچه تر بریدونو لاندې نیول کېږي او ترور کېږي. په دې ډله کې هغه ښځې شاملې دي، چې په حکومت، مطبوعاتو او پولیسو کې کار کوي یا هم د مدني ټولنو بنسټونو غړې دي.[۴۵] د ښځو استازیتوب د پیاوړتیا، سیاسي مشارکت او دندو دغه راز لومړنیو خدمتونو ته د لاسرسي له لارې د جنسیتي واټن راکمولو پر هڅو سربېره سیستماتیک تبعیض ډېر ښکاره دی.

له ښځو سره دا ډول سخت چلن او د افغانستان پر فرهنګي میراثونو برید د هغو له ډلې د بودا مجسمې نړول و چې په نړیواله کچه یې د طالبانو نوم پورته کړ. د طالبانو واکمنۍ له پیل تر پایه دوی په خپلو دریځونو کې بدلون رانه وست. له هغه وخت راوروسته یوازېنی بدلون د دوی په ویناوو کې تغییر و، چې په خوله یوازې دا وایي، چې دوی د ښځو خلاف نه دي. د ۲۲ کلونو په تېرېدو بیا هم د دوی په ډله کې هېڅ ښځینه غړې شتون نه لري.

# په تېرو کلونو کې د انتقالي عدالت پر سر خبرې اترې

په ۲۰۰۱ زېږدیز کال کې د طالبانو له نظامي ماتې وروسته یو شمېر طالب مشران وتښتېدل خو له لوړپوړو چارواکو نیولې تر جنګیالیو پورې یو شمېر نور یې نوي حکومت ته تسلیم شول. دې تسلیمۍ د ۲۰۰۱ زېږدیز کال په ډسمبر کې د بن هوکړې له لاسلیک کې مرسته وکړه. دې هوکړې دا هیلې یې راوټوکولې چې هېواد به له جګړه ییز پړاو د سولې، له بې نظمۍ د یو نوي سیاسي نظم او له تفرقې د یووالي پر لور حرکت وکړي.

## د بن خبرې

د ۲۰۰۱ زېږدیز کال په ډسمبر کې د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان استازی لخدر ابراهیمي، د افغانستان اپوزیسیون لپاره د امریکا متحده ایالاتو استازی (سفیر جیمز ډوبینز) او له افغانانو څخه ټاکل شوی پلاوی د بن په سن پترزبرګ هوټل کې سره راټول شول څو د افغانستان لپاره پر یوې لنډمهاله اداري بحث وکړي، چې په ترڅ کې یې د بن هوکړه رامنځ ته شوه.[۴۶]

په یاده ناسته کې د هغو څلورو افغان جهتونو استازو ګډون درلود، چې د طالبانو مخالف وو:

شمال ټلواله یا متحده اسلامي جبهه یوازینۍ ډله وه، چې بن کنفرانس ته مستقیماً له افغانستان راورسېده. یادې ډلې د کابل په ګډون د هېواد پر اکثریت خاورې کنټرول درلود او د نظامي عملیاتو پرمهال یې د امریکا متحده ایالاتو تر ټولو زیات ملاتړ له ځان سره درلود. د دې ډلې مشر برهان الدین رباني ځان ولسمشر ګاڼه، ته رسولی و او له هغه ځایه یې چارې پرمخ وړې. نوموړي په ډاګه دا غوښتنه کوله چې د لنډمهاله اداري په تړاو خبرې له کومې بهرنۍ مداخلې پرته په کابل کې وشي، له دې کبله یې په کنفرانس کې ګډون هم ونه کړ. د نوموړي پرځای یونس قانوني د پلاوي مشري پرغاړه لرله. شمال ټلوالې په لنډمهاله اداره کې شاوخوا نیمایي چوکۍ ترلاسه کړې.[۴۷]

د روم ډله چې له پخواني پاچا محمدظاهرشاه سره یې تړاو درلود او له هېواد د باندې یې په روم کې د تبعید ورځې شپې تېرولې. شمال ټلوالې په ډاګه د یادې ډلې له بیاځل راتګ سره مخالفت درلود، له دې کبله یې له عبدالستار سیرت؛ چې د شاهي دوري پرمهال د عدلیې وزیر و، ملاتړ وکړ. د یوه ویناوال له قوله ښاغلی عبدالستار سیرت د لنډمهاله اداري د مشرۍ لپاره په دوو دلایلو ونه منل شو: لومړی دا چې د نړیوالې ټولنې له نظامي حضور سره یې مخالفت درلود او بل دا چې د پښتون تبر پرځای یې له ازبکانو سره تړاو درلود.

د قبرس ډله چې له ایران سره نېږدې اړیکې لرونکې تبعید شوي افغانان وو؛ د ګلبدین حکمتیار زوم همایون جریر یې مشري کوله او د جلیل شمس دغه راز عزیزالله لودین په ګډون یې د شوروي اتحاد پر ضد د مقاومت نورو غړو ملتیا کوله.

ځلورمه ډله د پېښور ډله وه، چې اووه ګوني پښتانه په کې راټول وو او د پیر سید احمد ګیلاني په مشرۍ د شیخ اصف محسني او انورالحق احدي په څېر کسان په کې راټول وو.

محرمانه خبرې اترې یوازې تر ۲۵ ګډونوالو پورې محدودې وې، چې د افغاني ټولنې بشپړ استازیتوب یې نه شو کولای. وروسته لخدر ابراهیمي په یاد کنفرانس کې د طالبانو له پامه غورځول اصلي تېروتنه وګڼله، خو دا باید له یاده ونه وځي چې د دوی په ګډون سره یاد هوکړه لیک شونی نه و او نورو ډلو په تېره بیا امریکا متحده ایالاتو د دوی ګډون ته اجازه نه ورکوله او د دوی ګډون یې نه مانه.[۴۸] د دې ترڅنګ د قربانیانو د وارثینو هېڅ استازي په یاد کنفرانس کې مستقیمه برخه نه لرله او د ملګرو ملتونو سازمان امنیت شورا هم له یادې هوکړې هرکلی وکړ.

## د بن هوکړه

د بن هوکړې په ترڅ کې د افغانستان لنډمهاله اداره رامنځ ته او سیاسي مشري له طالبانو د مخکې دورې مشرانو د هغوی له ډلې د مجاهدینو، تکنوکراتانو، د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند یو شمېر مشرانو او نورو بانفوذه اشخاصو ترمنځ ووېشل شوه. لنډمهاله اداره له یو رئیس (پښتون ولسمشر حامد کرزي)، پنځو مرستیالانو او ۲۴ وزیرانو جوړه شوې وه. د دې ترڅنګ ستره محکمه هم جوړه شوه او ورسره د بېړنۍ لویې جرګې دایرولو لپاره یو ځانګړی خپلواک کمیسیون هم رامنځ ته شو. لویه جرګه د ۲۰۰۲ زېږدیز کال په جولای میاشت کې دایره شوه او د لنډمهاله ادارې چارې یې د افغانستان انتقالي ادارې ته وسپارلې.

د بن هوکړه لیک د انتقال پړاو لپاره درې کلنه تګلاره ترسیم کړه، چې په ترڅ کې یې باید اجرائیه او قضائیه قوې رامنځ ته شوې وای. په دې لړ کې یو شمېر اساسي ګامونه پورته شول: د بېلګې په توګه د ۲۰۰۲ زېږدیز کال په جولای میاشت کې بېړنۍ لویه جرګه دایره او د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د افغانستان انتقالي اداره رامنځ ته شوه؛ په ۲۰۰۴ زېږدیز کال کال کې د سترې محکمې عالي قضایي شورا رامنځ ته او نوی اساسي قانون تسوید شو؛ او په ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ زېږدیزو کلونو کې د ولسمشرۍ ټاکنې او پارلماني ټاکنې وشوې.

د ګڼ شمېر کمېسیونونو چارې د دوی د خپلواکۍ په تړاو د شک له کبله په ښه ډول پیل نه شوې. د بېلګې په توګه د عالي قضایي شورا غړو له سترې محکمې دغه راز ګڼ شمېر وزارتونو سره تړاو درلود او حکومت یاده شورا د درېیو میاشتو په ترڅ کې منحل کړه.[۴۹] د بېړنۍ لویې جرګې دایرولو خپلواک کمېسیون د جرګې غړیتوب لپاره پر غوښتونکو د یو ژمن لیک لاسلیک اجباري کړی و، چې په یاد ژمن لیک کې دا ژمنه کېده، چې په قتل، تروریستي کړنو او د نشه یي توکو په قاچاق کې لاس نه لري. خو د دې ژمن لیک او لایحې د پلي کېدو لپاره واقعي لاره نه وه، ځکه زور لرونکو مشرانو په ډېرې اسانۍ خپل ژمن اشخاص یادې جرګې ته د ننه کړل.[۵۰]

## د بن هوکړه او انتقالي عدالت

د بن هوکړه لیک د انتقالي عدالت پر لور له تګ ډډه وکړه، نه یې د مسوولیت راجع کولو او ځواب ورکړې مېکانیزمونه ځانګړي کړي وو او نه یې د عمومي بښنې په تړاو څه ویلي و. پردې سربېره، د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون د تېرو ناوړه کړنو په تړاو د خبرو اترو پیل ته زمینه مساعده کړې. یاد کمېسیون چې د ولسمشر په فرمان رامنځ ته شو، عمده دندې یې د بشري حقونو ملي پلان چمتو کول، پر بشري حقونو او د دولتي ادارو پر کړنو څارنه دغه راز د راپور ورکړه ترڅنګ یې د روزنیزو ورکشاپونو او نورو ظرفیت لوړولو پروګرامونو له لارې د بشري حقونو پیاوړتیا وه. پتیل شوې وه، چې یاد کمېسیون ملي مشورې ترسره او د انتقالي عدالت دغه راز پخوانیو ناسمو کړنو ته د لاسرسي په موخه یوه ملي ستراتیژي وړاندیز کړي.[۵۱]

# له بن هوکړې وروسته انتقالي عدالت او سوله

د بن هوکړې له لاسلیک وروسته له کوم ځنډ پرته داسې یو فرصت لاس ته راغی څو د قربانیانو د وارثینو پر زخمونو ملهم ولګول شي او د انتقالي عدالت په باب غوښتنو ته لاسرسی وشي. دې کار له دولت او ټولنې سره مرسته کوله چې ټپونه یې ورغیږي او د دولت جوړونې دغه راز ګډې راتلونکې پر لور حرکت وکړي؛ که څه هم چې د بریالیتوب په تړاو یې ډېر کم اټکل کېدلای شو.[52] خو نه هم افغان دولت او نه هم امریکا متحده ایالاتو د انتقالي عدالت په برخه کې لېوالتیا درلوده. که څه هم ولسمشر کرزي په لنډه توګه یوه انتخابي تګلاره په پام کې ونیوه، خو د امریکا متحده ایالاتو لومړیتوب له تروریزم سره مبارزه وه. پردې سربېره د جګړې قربانیان او وارثین یې په دې اړه په ډلو وېشل شوي وو، چې څوک باید د محاکمې مېز ته راکش شي څو عدالت په غوره ډول تامین شي. د دولت لپاره یوه ببړنۍ ننګونه دا وه، چې د سولې ټینګښت او جګړې قربانیانو او وارثینو د غوښتنو ترمنځ یو توازن او تعادل رامنځ ته کړي. وروسته بیا دا د سولې او عدالت ترمنځ د توازن معضله له تروریزم سره د جګړې او عدالت ترمنځ د توازن پر معضله بدله شوه. بالاخره وروستۍ تګلارې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ د تروریزم په ضد د جګړې ملاتړ او د جګړې پای ته رسولو ته لومړیتوب ورکړ، په داسې حال کې چې د محاکمې مېز ته یې د جنګي جنایتکارانو راکشول او د پراخې روغې جوړې ترسره کول ترې قرباني کړل. ټولو تګلارو طالبان مستثنی ګڼل او دوی ته یې د جنګي جنایتکارانو او جګړه ییزو جرمونو د مرتکبینو په سترګه کتل او هېڅکله د دوی شکایتونو یا قربانیو په اړه چا غوږ ونه ګروه.

## د جنګي جرایمو مستندسازي او د جګړې له قربانیانو سره سلا مشورې

د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د مدني ټولنې بنسټونو د تېرو جګړو د جرایمو د مستندسازي کولو هڅو په لومړۍ کرښه کې ځای درلود.

د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون د بن هوکړه لیک له مخې په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت پیاوړتیا، خوندیتوب او څارنې لپاره رامنځ ته شوی دی. یاد کمېسیون کلني راپورونه او موضوعي څېړنې خپروي، چې د دوی تر څار لاندې کاري سیمې تر پوښښ لاندې راولي؛ د دې ترڅنګ د حکومتي ادارو او مدني ټولنې بنسټونو لپاره روزنیز ورکشاپونه دایروي. دوی په خپله کاري لایحه کې دا هم ځای پر ځای کړې چې له بندیانو سره لیدنې وکړې او د دوی پر وضعیت او اسانتیاوو دغه راز تر توقیف لاندې کسانو سره د چلند په تړاو راپور ورکړي، څو د انتقالي عدالت او تېرو ناوړه کړنو لپاره ملي ستراتیژي رامنځ ته او ملاتړ یې وشي.

پردې سربېره د یاد کمېسیون تر ټولو اړین راپور «عدالت غوښتنه» (۲۰۰۵) دی: یوه بلند پروازه ملي پروژه چې د عدالت غوښتنې او محاکمې ته د جنګي مجرمینو راکشولو په تړاو یې د افغانانو نظرونه پوښتلي دي. د دې راپور رېښه په ۲۰۰۲ زېږدیز کال کې د بشري حقونو په تړاو لومړي ملي ورکشاپ ته ورګرځي، چې د دیني عالمانو او مدني ټولنې بنسټونو په ګډون سره دایر شوی و. په دې ورکشاپ کې د ملت جوړونې پروسې دغه راز انتقالي عدالت او د عدالت او محاکمې مېز ته د هغو کسانو راکشولو اړوند موضوعاتو په تړاو پر حل لارو چارو بحث وشو، چې له بشري حقونو یې سرغړونه کړې ده. له هغه وروسته د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون یوه سروې ترتیب کړه چې شاوخوا د ۴,۱۵۱ کسانو ځوابونه یې ترلاسه کړل او د ۲,۰۰۰ کسانو په ګډون یې ۲۰۰ متمرکزې ډلې دایرې کړې. دغو سلا مشورو او کیفي او کمي څېړنو ترسره کولو شاوخوا ۸ میاشتې وخت ونیو او د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له ډلې په ۳۲ کې ترسره شوې، چې په پاکستان او ایران کې یې د کډوالو ټولنې هم تر پوښښ لاندې راوستې. دې کار د جګړې قربانیانو او د هغوی وارثینو ته دا فرصت ورکړ څو خپلې غوښتنې په ډاګه کړي.

نېږدې ۷۰ سلنه ځواب ویونکو ویلي وو، چې دوی یا یې هم د کورنۍ غړي د جګړې پرمهال د بشري حقونو د سرغړونو قرباني شوي دي.[۵۳] د یاد راپور موندنې په ډاګه کوي، چې:

> د جګړې په ترخ کې له ۱ میلیون زیات وګړي وژل شوي او په همدې اندازه خلک معلول شوي دي،. په زرګونه خلک د خپلو سیاسي نظریاتو او افکارو له کبله زنداني شوي او ځورول شوي دي. په زرګونه ماشومانو د خپلو کورنیو غړي او پلرونه له لاسه ورکړي دي،. د دې ترځنګ د هېواد ټول لوی ښارونه ویجاړ شوي دي،. له ۷ میلیونو زیات وګړي د خپلو کورونو او کلیو پرېښودو او ایران یا پاکستان ته کډوالۍ ته مجبور شوي دي. د جګړې دغه پړاو بدبختۍ په الفاظو نه شي بیان کېدای.[۵۴]

د راپور پایله په ډاګه کوي، چې د بشري حقونو له سرغړونو د مرتکبینو محاکمې او له قدرت څخه د هغوی لېرې کولو لپاره بالقوه ملاتړ شته دی. د دې راپور سپارښتنې په ۲۰۰۷ زېږدیز کال کې د سولې، روغې جوړې او عدالت په باب د حکومت اقدامي پلان اساس وې، چې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون، د ولسمشرۍ دفتر او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان مرستندویه دفتر (یوناما) د ګډو هلو ځلو په ترخ کې چمتو شو. د یاد پلان تر ټولو عمده موخه په افغانستان کې د سولې، ملي روغې جوړې او عدالت پیاوړتیا دغه راز د قانون حاکمیت و. ترځنګ یې غوښتل له دې لارې د مسوولیت منلو فرهنګ رامنځ ته او د بشري حقونو قواعدو ته درناوی پیاوړی کړي. پورته یاد شوي پلان د انتقالي عدالت هغه لارې چارې ترسیم کړې وې، چې باید د درې کلونو په ترخ کې پلي شوې وای او د تایید، ځواب ویونکو دولتي ادارو، حقیقت موندنې او روغې جوړې په څېر یې پر محوري مسایلو یې تمرکز درلود.

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون بله بلند پروازه هڅه د «جګړې له ډګره د نقشې اخېستلو» پروژه وه، چې په ۲۰۰۵ زېږدیز کال کې په لاره واچول شوه، څو هغه جنایتونه په ډاګه کړي، چې د جګړې په هر پړاو کې هرې ډلې ترسره کړي دي. که څه هم د یادې پروژې راپور په ۲۰۱۱ زېږدیز کال کې ولسمشر کرزي ته وړاندې شو، خو د نامعلومو دلایلو له کبله خپور نه شو. د راپور له وړاندې کېدو وروسته ډېر ژر د بشري حقونو خپلواک کمېسیون ویاند نادر نادري هم له دندې ګوښه شو.[۵۵]

بل عمده اړخ چې د جګړه ییزو جرمونو په مستند سازي کولو او د جګړې له قربانیانو سره په سلا مشورو کې ښکېل و، د مدني ټولنې بنسټونه و.[۵۶] د افغانستان عدالت پروژې، د انتقالي عدالت کاري ډلې، د مدني ټولنو او بشري حقونو شبکې دغه راز د افغانستان بشري حقونو او ډموکراسۍ موسسې او د افغان عدالت غوښتونکو ټولنیز بنسټ په څېر د نورو بنسټونو په ګډون په دې ډله کې بېلا بېلې ډلې شاملې وې.

دغو او نورو نادولتي سازمانونو د تېرو جګړه ییزو جرایمو د مستند سازي کولو، په لویه کچه د سرغړونو پېژندلو، د ورکو شویو کسانو د نومو ثبتولو، د قربانیانو د کورنیو منسجم کولو دغه راز په ملي او بهرنۍ کچه د عامه پوهاوي لوړولو پروسې پرمخ وړلو هڅو ته ادامه ورکړه، که څه هم چې دا هڅې له ننګونې سره مخ شوې او ډېرې محدودې پاتې شوې. زیاتره د مدني ټولنو بنسټونه په کابل کې مېشت دي او کله چې د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون ترځنګ فعالیت کوي، دا ډېره ورته ستونزمنه ده څو عامه پوهاوی پراخ کړي او د ټولنې پراخې برخې په کې را یوځای کړي، په تېره بیا دا چې د جګړې اړخ د طالبانو کورنۍ او قربانیانو ته لاسرسی وکړي.

## ښښنه او روغه جوړه

د سولې موضوعاتو څېړونکی جان ګولتنګ روغه جوړه د «نېږدې کېدو او جوړجاړي» په توګه تعریفوي. نېږدې کېدل، دښمنیو ته له بیا ورګرځېدو د ډډې کولو په معنا دي او جوړجاړی د بیارغولو په معنا دی.[۵۷] له روغې جوړې موخه دا ده، څو د ټولنې په کچه د هغو ډلو ترمنځ ګډه همغږي او ګډ ژوند رامنځ ته کړي، چې پخوا په جګړه کې سره ښکېلې وې او ترځنګ یې د دولت او وګړو ترمنځ باور بېرته راژوندی کړي. پردې سربېره، ځینې بیا اند ښښنه لري، چې ښایي سیاسي لوبغاړي روغې جوړې ته په نوي سیاسي نظم کې د خپلو جنګیالیو شاملولو او د هر ډول محاکمې مېز او ځواب ویلو ته له راکش کولو د تېښتې لارې په سترګه وګوري.

د طالبانو واکمنۍ له ړنګېدو وروسته د طایب آغا، ملا عمر سکرتر، ملا برارد آخند، د ملا عمر مرستیال سراج الدین حقاني، په پاکستان کې د طالبانو پخواني سفیر ملا عبدالسلام ضعیف په ګډون یو شمېر لوړپوړي چارواکي او ګڼ شمېر نور طالبان حکومت ته تسلیم شول. دوی کرزي ته په یو لیک کې ولیکل چې کرزی یې د لنډمهاله ولسمشر په توګه منلی دی او په یاد لیک کې یې اعتراف کړی و، چې د دوی اسلامي امارات بیا ځل راژوندي کېدل امکان نه لري.[58] دوی له نوي حکومت سره خپلو خبرو اترو ته ادامه ورکړه، چې په یاد مهال کې نورو پخوانیو طالب چارواکو هم د مشروع او اسلامي حکومت په سترګه ورته کتل. ترڅنګ یې هغه طالبان چې نوی حکومت یې نه مانه، هېڅکله هم ژر د جګړې ډګر ته راستانه نه شول. د دوی لویه غوښتنه په بېرته راګرځېدو کې د بښنې او له سیاسي ژوند لېرې پاتې کېدل وو.

خو پرځای یې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ ائتلافي ځواکونو او د دوی نیابتي ډلو د پخوانیو طالبانو په ضد عملیات وکړل، چې دوی یې پاکستان ته په تېښته او بالاخره د نوې بلواګرۍ پیلولو ته اړ کړل.[59] حتی د قندهار پخواني والي ګل آغا شېرزي هم له خپل دریغ چې د طالبانو په وړاندې یې له کم تاوتریخوالي اخېستو لاره غوره کړې وه، د امریکا متحده ایالاتو له ځانګړو ځواکونو سره د نېږدې اړیکو لرلو له کبله مخ واړوه. له دې وروسته د پخوانیو طالبانو ځورول، شکنجه او ګواښل مروج شول. ځینې پخواني طالب قومندانان چې د طالبانو له لوري ګوښه شوي وو، د انتقام غوښته یې کوله او له بښنې سره یې مخالفت وکړ. کرزي ته د استول شوي لیک زیاتره لاسلیکوونکي په ۲۰۰۷ زېږدیز کال کې د طالبانو په بیاځل راپورته کېدو سره د دوی د مشرۍ لوړپوړي چارواکي او څېرې شوې. د بېلګې په توګه حقاني له سیاسي اړخه په اړین غړي بدل شول، طایب آغا د مالي کمېټې مسوول وټاکل شو او په کوټټه شورا کې یې خدمت کاوه، او برادر ورځ تر بلې د ټول خوځښت په عمومي مشر د بدلېدو په حال کې و. په افغانستان کې د ناامنیو بیا ځل زور اخېستو له کبله د انتقالي عدالت هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې.

د لوړپوړو او لومړۍ درجه غړیتوب لرونکو طالب چارواکو دواړو په منځ کې عمومي حاکم ذهنیت دا و، چې دوی د افغانستان له سیاسي ژوند ګوښه شوي دي. ژورنالېست او لیکوال اناند ګوپال وایي، چې په سیاسي نظام کې د پخوانیو طالبانو د ادغام لپاره له لاسته راغلي فرصت ګټه وانخېستل شوه او د یادې ډلې حاشیې ته کول دغه راز د دوی په نښه کول هغه عمده لامل و، چې د دوی په بیاځل راپورته کېدو کې یې مرسته وکړه.[60] حتی پاکستان ته له تېښتې وروسته زیاتره پخواني غړي په دې نظر و، چې بېرته کابل ته راوګرځي او بیاځل وسلې ته له لاس اچولو ډډه وکړي. خو د جګړې له میراث سره د تعامل لپاره د حکومت د سیاسي ارادې کمښت، د امریکا متحده ایالاتو د مشرتابه ځینو اړخونو له لوري مخالفت، د بهرنیو ځواکونو په وړاندې د طالبانو په بیاځل انسجام کې د سیمه ییزو هېوادونو ګټو او د طالبانو عمومي ټولنیزې انزوا یاده ډله بیاځل یوځای کېدو او د د کابل حکومت رانسکورولو او د واک ترلاسه کولو ته مجبوره کړه.

په ۲۰۰۹ زېږدیز کال کې د افغانستان ملي شورا د بښنې په نوم یو خورا جنجال راپاروونکی قانون، چې (د ملي روغې جوړې، عمومي بښنې او ملي ثبات د قانون) په نوم هم مشهور دی، تصویب کړ. یاد قانون د پارلمان له لوري وړاندیز شوی و، چې غړي یې په خپله د جګړې اړخونه وو. دا قانون چې د ۲۰۰۸ کال په وروستیو کې نافذ شو، هغو کسانو ته، چې له ۲۰۰۱ زېږدیز کال مخکې یې جرمونه ترسره کړي و، د دوی د جرم ډول ته له کتو پرته یې په دې شرط بښنه وکړه چې د دولت په وړاندې له وسله والو فعالیتونو لاس واخلي. دغه راز په دې قانون کې تسجیل شوي وو، چې په جګړه کې ټول ښکېل اړخونه د سولې او ثبات په پار یو بل وبښي.[61] یاد قانون په ۲۰۱۴ کال کې د ولسمشرۍ ټاکنو د نوماندو ۸ کسانو په ګډون په جنایتونو تورونو زیاترو جنګسالارانو ته لار هواره کړه، چې له دې عمومي عفوې ګټه پورته کړي او بېرته د سیاست ډګر ته د ننه شي. د یادونې وړ ده، چې یاد قانون د طالبانو د جنایتونو په اړه څه نه و ویلي او نه یې دا په ډاګه کړي وو، چې له دوی سره څه ډول چلن وشي.

د ۲۰۰۸زېږدیز کال په وروستیو کې له طالبانو او نورو وسله والو ډلو سره د خبرو اترو هڅو څرک ولګېده. په دې برخه کې نظرونه په دوو برخو وېشلي وو: یوې ډلې د لومړۍ درجه او نورو غړو سره د خبرو کول غوښتل او دویمې ډلې بیا له لوړپوړو چارواکو سره د مذاکرې مېز ته له کېناستلو پلوي کوله. د لومړۍ ډلې پلوی د امریکا متحده ایالاتو د پوځ پخوانی جنرال ډیوډ مایکرنان و. د نوموړي اصلي اندېښنه ټولنیز او اقتصادي اړتیاوې وې، او له کوچنیو طالبانو سره یې روغه جوړه غوښته. د ده په باور له ټیټ پوړو طالبانو سره باید روغه جوړه وشي او په دې روغه جوړه کې اقتصادي او مالي انګېزې، د سیاسي ګډون لپاره لارې هوارول او له تور لېست د دوی لېرې کول شامل و.[62] افغان حکومت هم د دې ډول روغې جوړې لپاره د پروګرام تابیاوې ونیوې او په ۲۰۱۰ زېږدیز کال کې یې

په لندن کې د تمویلوونکو کنفرانس ته خپل وړاندیزونه وښودل. یاد پروګرام د افغانستان د سولې او بیاادغام تر نوم لاندې و، او له تروریزم سره د جګړې محدودیتونه یې په لومړي ځل رسماً تایید کړل او بالاخره له طالبانو سره یې د سولې او روغې جوړې خبرو په تړاو زیګنال ورکړ.

له دې ورهاخوا په ۲۰۱۷ زېږدیز کال کې حکومت له مشهور جنګسالار او پر کابل د هغو راکټونو په ویشتلو کې له لاس لرونکي ګلبدین حکمتیار سره سوله وکړه، چې د زرګونه کابلیانو ژوند یې واخیست. په یاده هوکړه کې عمومي عفوه، د ګلبدین اړوند بندیانو خلاصون، او په سیاست کې د ګډون او ټاکنیزو سیالیو کې د ونډې اخیستل شامل وو.[٢٣] دا هوکړه د سولې پرځای تر ډېره یوه سیاسي معامله وه او له حکمتیار سره د تړلو ملېشاوو د پخوانیو جرایمو په تړاو له هېڅ موضوع په کې یادونه نه ده شوې.

## پلټنه

له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راوروسته حکومت د لوړې کچې سیاسي ګمارنو، پارلماني کاندیدانو او د پولیسو امنیه قوماندانانو د ګمارلو په برخه کې ګڼ شمېر پلټونکي تګلارې عملي کړې دي. پردې سربېره، د ټاکنو قانون هم په ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې د پلټنې موارد او لارې چارې په ډاګه کړې دي.[٢٤]

خو له دې هڅو سره سره، په دې برخه کې له سیاسي مصلحت ګټه پورته شوې ده، ځکه دغو هڅو هم کومه پایله نه ده ورکړې. دا بیا هم له دې واقعیت سره تړاو لري، چې له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راوروسته ټولې چارې د هغو کسانو په لاس کې دي، چې د جګړې پرمهال یې ګڼ شمېر سرغړونې او جنایتونه ترسره کړې دي. د پلټنې هر ډول پروسه کولای شي سیاسي توازن له ګواښ سره مخ کړي. تر ټولو اړینه بېلګه یې د جنرال عبدالرشید دوستم قضیه ده. که څه هم د نوموړي په تړاو د پلټنو به برخه کې خورا پرمختګ شوی، خو بیا هم په سیاست کې اړینه ونډه لري او د قدرت او سیاسي چوکیو اړینه برخه له ځان سره لري.[٢٥]

## بیاځلې ادغام

د بیاځلې ادغام پروسه معمولاً د دې لپاره تر کار لاندې نیول کېږي، چې پخواني جنګیالي په ځمکه د وسلو ایښودو او له ټولنې سره بیاځل یوځای کېدو ته وهڅول شي. دوی د روغې جوړې پروسې غوښنه برخه جوړوي. دا راپور بیاځل ادغام ته د» هغه اوږدمهاله پروسې په سترګه ګوري، چې په ترڅ کې یې پخواني جنګیالي د خپلې ټولنې له لوري منل کېږي او په ټولنه کې د ژوند کولو لپاره ثابت ځای پیداکوي.»[٢٦]

افغانستان د دې برخې لپاره څلور پروګرامونه تر کار لاندې نیولي دي: ۱) بې وسلې کول، غیرمنسجم کول، او بیاځلې ادغام (ډي ډي آر، له ۲۰۰۳ تر ۲۰۰۵ کلونو پورې)، ۲) د غیرقانوني وسله والو ډلو انحلال (ډایاک، له ۲۰۰۵ تر ۲۰۱۱ کال پورې)، ۳) د سولې ټینګښت پروګرام (۲۰۰۵ تر ۲۰۱۱ کلونو پورې) او ۴) د افغانستان د سولې او بیاادغام پروګرام (۲۰۱۰ څخه تر ۲۰۱۲ کلونو پورې). د دې لړۍ لومړی برخه هغه مهال پیل شوه، چې د ملګرو ملتونو سازمان د پراختیایي پروګرام له لوري د افغانستان نوې پیل پروګرام په لاره واچول شو. د یاد پروګرام موخه د بې وسلې کولو پروګرام لپاره د ۱۰۰،۰۰ ځواکونو پر کار ګمارل و.[٢٧] له دې کبله د بې وسلې کولو پروګرام د افغانستان نوې پیل پروګرام په ترڅ کې پرمخ یوړل شو. له دې کار عمده موخه دا وه، چې د منځنۍ کچې قوماندانان په پوځ کې د دوی د وسله والو د ګمارلو له لارې کمزورې شي. پردې سربېره، یاد پروګرام یوه رضاکاره پروسه وه، چې د افغان ملېشې له ځواکونو یې پوځ ته جنیګالي ټاکل او طالبان په دې پروګرام کې نه و شامل.[٢٨] ځینو پخوانیو جنګیالیو مسلکي روزنې ترلاسه کړې او ځینې نور بیا مستقیماً په اردو او پولیسو کې پر کار وګمارل شول. د راپورونو له مخې تر ۲۰۰۷ زېږدیز کال پورې په زرګونو پخوانیو جنیګالیو خپلې وسلې تسلیم کړې او په ترڅ کې یې د ملېشو شمېر راکم شو. د دې ترڅنګ ۱۱،۰۰۰ ماشومانو د بیاځلې ادغام په پروسه کې ونډه اخیستې وه، چې تمرکز یې پر زده کړو او مسلکي زده کړو ترلاسه کولو وو. ان تر دې، چې د پخوانیو جنیګالیو ښځینه خپلوانو هم زده کړې ترلاسه کړې او کاري فرصتونه ورته چمتو شول.[٢٩]

په ټوله کې د بې وسلې کولو پروګرام له لومړنیو اقداماتو څخه د عامو وګړو له لوري مختلط هرکلی وشو. ځینو یې یاد پروګرام ګټور ګاڼه څو ځانګړې وسله والې ډلې بې وسلې شي، خو ځینو نورو بیا یاده پروسه مطلقاً ناکامه ګڼله. که څه هم پخوانیو جنګیالیو ته په ملي امنیتي ځواکونو کې د ګمارلو کېدو اجازې د عدالت کمزورتیا او له ځواب ویلو اصل د تېښتې زمینه چمتو کړه، خو د بې وسلې کولو ګټه دا وه، چې له دې په زیاتو وسله والو شخړو کې یې د دوی ښکېلتیا رامحدوده کړه او په لویه کچه درنې وسلې په هېواد کې راکمې شوې.[۷۰]

که څه هم د بې وسلې کولو پروسه د طالبانو تر جنګیالیو ونه غځېده، خو په **۲۰۰۵** زېږدیز کال کې یې د سولې ټینګښت پروګرام له لارې د بیاځل ادغام هڅه هم ونه شوه.[۷۱] نیوکه دا وه، چې د طالب جنګیالیو لپاره خوندیتوب رامنځ ته نه شو او په ټولنه کې ادغام نشول.[۷۲] په ځینو حالاتو کې دا اندېښنې هم ښکاره شوې، چې د دوی مشرانو او نورو له دې فرصت ګټه واخېسته څو د خپلې ډلې پخوانیو قوماندانو ته امکانات چمتو کړي او بیاځل راپورته کېدو ته یې وهڅوي.[۷۳]

طالبانو له خپل اړخه د ملي بې وسلې کولو پروسه په پراخه کچه له تبعیض ډکه ګڼلې ده. حتی د یادې پروسې د جریان پرمهال د جمعیت ګوند غړو د هغو ډلو پر ټاکنه اغېز او نفوذ درلود، چې باید منحل شي او کوم پخواني جنګیالي باید په دولتي سیستم کې ادغام شي. په دفاع وزارت کې د دې پروسې اصلي غړي د دوی تر فشار لاندې و، څو د ګټو په خوندیتوب کې یې مرسته وکړي.[۷۴] دې کار د ځمکني واقعیت له مخې د بې وسلې کولو پروګرام اغېز راکم کړ او د وسلو راټولول په ټولو اړخونو پلي نه شول. پردې سربېره، داسې ویل کېږي، چې په دفاع وزارت کې حاکمو سیاسي جهتونو د بې وسلې کولو په پروسه کې ګوتې ووهلې او پخواني طالب جنګیالي یې له دې پروسې وویستل. دا کار وروسته د دولت لپاره په سرخوږي بدل شو، ځکه پخواني جنګیالي بېرته په **۲۰۰۲** زېږدیز کال کې له راپورته شویو وسله والو طالبانو سره یوځای شول.[۷۵]

په افغانستان کې د بې وسلې کولو پروګرام د بیاادغام برخې هم ورته ستونزې لرلې. که څه هم جنګیالیو خپلې وسلې تسلیمولې خو په نورو زورواکو ډلو کې د دوی بېرته مدغمېدو او له هغوی سره د یو ځای کېدو په اړه ډېرې کمې هڅې ترسره شوې. دې کار لا زیات د ملاتړ او نظامي قدرت پیاوړتیا سیستم ته لار هواره کړه چې د حکومت او دولت مشروعیت له ادعا سره په ټکر کې و.[۷۶]

په ۲۰۱۰ زېږدیز کال کې د افغانستان د سولې او له دولت سره د بېرته یوځای کېدو پروګرام هڅه دا وه څو د ټیټې کچې جنګیالي له دولت سره یوځای کېدو ته وهڅوي او ترڅنګ یې د روغې جوړې لپاره له لوړپوړو مشرانو سره هم د سیاسي مذاکراتو دروازې پرانېستې پرېږدي. خو لومړی برخې یې د امریکا متحده ایالاتو او ناټو ملاتړ له ځان سره درلود، مګر دویمه برخه (له لوړپوړو دولتي چارواکو سره مذاکرات) یې د امریکا متحده ایالاتو له سخت مقاومت سره مخ شول.[۷۷] په **۲۰۱۹** زېږیز کال کې د افغانستان بیارغونې په چارو کې د امریکا متحده ایالاتو ځانګړې سرمفتېش (سیګار) وویل چې د بیاځل ادغام تېرې هڅې د سولې جامع هوکړې، امنیتي اقداماتاتو او د برخه والو لپاره د اقتصادي یا قانوني فرصتونو د کمښت دغه راز له ملېشاوو سره د امریکا متحده ایالاتو د ملګریتوب له کبله له ناکامۍ سره مخ وې.[۷۸]

په ټوله کې د بیاځلي ادغام دغو پورته یادو شویو پروګرامونو په تېراو شکونه شته دي. د سیګار راپور په ډاګه کوي، چې د ارزونې او څارنې سیستمونه په دې بریالي نه و، څو د یادو هلو ځلو اغیزمنتوب وارزوي: په تېره بیا دا چې وارزول شي چې ایا پخوانیو جنګیالیو ته په خپلو ټولنو کې هرکلی شوی او که نه؟ او بلاخره له دوی سره څه شوي دي. د راپور موندنې په ډاګه کوي، چې د بیاځلي ادغام د پروګرامونو له ډلې هېڅ یو یې په دې نه دی بریالی شوی څو د پخوانیو جنګیالیو له ډلې اړین شمېر یې له اقتصادي او ټولنیز اړخه په خپلو ټولنو کې ادغام کړي. هغه پروګرامونه چې د طالبانو جنګیالي یې ځانګړې موخه وه، په دې نه دي توانېدلي چې جګړه ییز پوتانشیل تر یوې ځانګړې کچې راکم کړي یا هم په موازي ډول د روغې جوړې له هڅو سره د پام وړ مرسته وکړي.[۷۹]

پردې سربېره، په **۲۰۱۲** زېږدیز کال کې له حکومت سره د ګلبدین په مشرۍ د اسلامي ګوند د سولې هوکړه لیک له لاسلیک وروسته د یاد ګوند د جنګیالیو بیاځل ادغام لپاره هم هڅې روانې دي. خو په ملي امنیتي ځواکونو کې د ګلبدین په مشرۍ د اسلامي ګوند جنګیالیو د ادغام پروسه په ملي امنیتي ځواکونو کې د جلب او جذب په پروسه کې د تغییراتو، د نورو اړخونو له لوري د مخالفت او له طالبانو سره د سولې اوسنیو مذاکراتو ته د لومړیتوب ورکړې له کبله ځنډېدلې ده.[۸۰]

پـه ځينـو حالاتـو کـې د بيـاځـل ادغـام اصلـي برخـه د جګـړې اړخونـو ترمنـځ روغـه جـوړه او پـر دښـمنيو او خصومتونـو د بريالـي کېـدو لپـاره د تـر ټولـو اغېزناکـو لارو چـارو پيدا کـول هـم دي. بيـاځـل ادغـام تـه ډېـره پاملرنـه او د سـولې دغـه راز انتقالـي عدالـت لـه پراخـو موخـو سـره يـې تطابـق بـه پـه راتلونکـي کـې اړيـن وي.

## عرفي عدالت

زياتـره افغانـان د انتقالـي عدالـت ټيټـو جيګـو نوښـتونو پـه تـړاو شـکمن دي. دا هڅـې هغـه مهـال راپورتـه کېـږي، چې کلـه د سـولې شـورا ولايتـي دفترونـو او د سـولې عالـي شـورا لپـاره ګمارنـې کېـږي او دا انديښـنې راپورتـه کېـږي، چې د سـولې پـه خبـرو کـې بـه د انتقالـي عدالـت موضـوع تـه لومړيتـوب ورکـړل شـي.

لـه لـوړې کچـې د ټيټـې پـر لـور د عدالـت پـه بـاب شـکونه دې تـه زمينـه مسـاعدوي، چې لـه ټيټ د لـوړ پـر لـور د انتقالـي عدالـت پـر تـګلارو د هغـو لـه ډلـې پـر عرفـي عدالـت فکـر وشـي. د شـخړو هـواري لپـاره د يـوې وسـيلې پـه توګـه لـه عرفـي عدالـت د ګټـې اخيسـتنې شـونتيا شـته ځـو لـه دې لارې پـه ځايـي او د ټولنـو پـه کچـه تـر يـوې اندازې روغـه جـوړه وشـي، لـه دې ډلـې د سـنتي مشـرانو پـه لاس انتقالـي عدالـت تـه اشـاره کـولای شـو، چې دا تضميـن رامنـځ تـه کـولای شـي چې د قربانيانـو غـږ بـه واورېـدل شـي او د دوی پـه وړانـدې ترسـره شـويو بې عدالتيـو تـه بـه لاسرسـی وشـي. دا کار کـولای شـي د لېـرې پرتـو سـيمو وګـړو لـه لـوري يـو شـمېر غوښـتنو تـه مثبـت ځـواب ووايـي؛ د بېلګـې پـه توګـه هغـو غوښـتنو تـه ځـواب ووايـي چې پـه ځايـي شـخړو او جګـړو کـې متحـرک رول لـري او د ۲۰۱۹ زېږديـز کال د اپرېـل پـه مياشـت کـې د سـولې پـه مشـورتي لويـه جرګـه کـې پـرې بحـث شـوی دی.[۸۱] پـردې سربېره، پـه ځايـي کچـه عرفـي عدالـت کـولای شـي لـه ټيټـې کچـې د لـوړې کچـې پـر لـور ميکانيزمونـو د ملاتـړ لپـاره بالقـوه بنسـټونه رامنـځ تـه او پيـاوړي کـړي تـر دې چې پـه ملـي کچـه سياسـي اراده پـه بشـپړه توګـه دې تـه چمتـو شـي، چې د لا زيـات رسـمي انتقالـي عدالـت پروسـه رامنـځ تـه کـړي.[۸۲]

عرفـي قواعـد (دودونـه او رواج) د پېچلـو قواعـدو ټولګـه پـه ځـان کـې رانغـاړي چې د ټولنـې لـه لـوري لـه منـل شـويو باورونـو سـرچينه اخلـي او لـه يـوې ټولنـې تـر بلـې توپيـر لـري.[۸۳] پـه داسـې حـال کـې چې رسـمي قوانيـن د جګـړې پرمهـال لـه پامـه وغورځـول شـول، خـو عرفـي عدالـت او قواعـدو د زياتـرو ننګونـو ترڅنـګ بيـا هـم خپـل مقاومـت تـه ادامـه ورکـړه. کـه څـه هـم حکومـت د عرفـي جوړښـتونو پـر ارزښـت پـوه دی او لـه قومـي مشـرانو تـه يـې د مرسـتې لاس اوږد کـړی دی، خـو دا عرفـي ميکانېـزم تـر دې دمـه پـه سـمه توګـه نـه دی راسـپړل شـوی. دا ارزښـت ورکـړه د هغـه ونـډې لـه کبلـه ده، چې عـرف او رواجونـه يـې د شـخړو پـه هـواري کـې لـه ډېـر پخـوا لـري او د افغانسـتان پـه څېـر پـه سـنتي ټولنـه کـې کلتـوري ارزښـتونو تـه د پـام وړ درنـاوی کېـږي.[۸۴]

دې تـه پـه پـام چې پـه رسـمي قضايـي عدالـت کـې ډېـر وخـت لګيـږي او يـوازې تـر ښـارونو او د ولسـواليو تـر مرکزونـو محـدود دی، نـو د کليـو او بانـډو زياتـرو وګـړو پـر عرفـي ميکانيزمونـو تکيـه کـړې، چې هـم پـه اسـانۍ ورتـه لاسرسـی کېـږي او هـم د شـخړو پـه هـواري کـې ډېـر اغېزنـاک دی. د آسـيا بنسـټ ۲۰۱۸ زېږديـز کال د سـروې مونـدنې پـه ډاګـه کـوي، چې د ځـواب ويونکـو لـه ډلـې شـاوخوا ۴۵.۴ سـلنه يـې عرفـي عدالـت يانـې شـوراګانو او جرګـو تـه د خپلـو سـتونزو او شـخړو هـواري لپـاره مراجعـه کـړې ده (دا شـمېره پـه ۲۰۱۷ زېږديـز کال کـې ۴۳.۲ سـلنه وه)، ۴۱.۹ سـلنه نـورو بيـا دولتـي قضايـي سيسـتم يانـې محاکمـو تـه مراجعـه کـړې او ۲۷ سـلنه بيـا د حقوقـو ادارو تـه د خپلـو شـخړو هـواري لپـاره مراجعـه کـړې ده. د ښـاري وګـړو پـه پرتلـې (٪۳۲.۵) د کليـو او بانـډو وګـړي (٪۴۷.۶) يـې شـوراګانو او جرګـو تـه د خپلـو شـخړو د هـواري لپـاره مراجعـه کـوي.[۸۵]

دينـي علمـاء او د قـوم يـا قبيلـې مشـران تـر ډېـره د دغـو عرفـي ميکانيزمونـو د چـارو واګـې پـه لاس کـې لـري او د عدالـت ببرتـه راژونـدي کولـو لپـاره دوی د شـخړې ټـول اړخونـه سـره کېنـوي څـو خپلـې اړيکـې ببرتـه ورغـوي.[۸۶] د تلافـي غوښـتنې د روغـې جـوړې پـه دويـم ګام کـې ترسـره کېـږي او د عرفـي عدالـت زياتـره اسـانچاري کسـان د رسـمي عدالـت متخصصيـن نـه دي. د يادونـې وړ ده، چې پـه افغانـي ټولنـه کـې د علمـاوو پراخـه ونـډې تـه پـه کتـو د شـخړو پـه هـواري کـې د دوی ونـډه ډېـره د پـام وړ او ګټـوره ده.[۸۷] دې تـه پـه ورتـه ډول د انتقالـي عدالـت پـه راتلونکـو نوښـتونو کـې د علمـاوو ښـکېلتيا بـه د انتقالـي عدالـت پـه برخـه کـې د ناسـم تفسـير او ناسـم قضـاوت مخنيـوی وکـړي ترڅنـګ بـه يـې لـه انتقالـي عدالـت د

ملاتړ په برخه کې هم د پام وړ ونډه ولوبوي.

په راتلونکې کې یو احتمال دا کېدای شي چې عرفي عدالت د حقیقت موندنې او روغې جوړې کمېسیون په کاري لایحه کې ځای پرځای شي، چې د سیریلیون او شرقي تیمور په څېر هېوادونو څخه به په دې برخه کې تجربې را انتقال کړي. له دا ډول میکانیزم ګټه اخېستنه په یو وخت کې د انتقالي عدالت ګڼ شمېر موخو په ترلاسه کولو کې مرستندویه تمامېدای شي (د بېلګې په توګه د حقیقت موندنې، قربانیانو برخې اخېستنې، ذات البیني روغې جوړې او د پخوانیو جنګیالیو په ادغام کې د پام وړ مرسته کولای شي)، ترڅنګ یې په دې کې هم مرستندویه تمامېدای شي، چې ولې یو شخص جرم ترسره کړی او هغه شرایط کوم دي، چې په ترڅ کې یې نوموړی بېرته سوله ییز چاپېریال او ژوند ته راوګرځول شي، چې معمولاً یاد شرایط له قرباني څخه د بښنې غوښتل او ننواته ده.

## یادګار

له ۲۰۰۱ زېږدیز کال راپه دېخوا د جګړه ییزو جرمونو د یادګار او موزیم د جوړولو لپاره هڅې ترلاس لاندې دي، څو د جګړې له قربانیانو او د قربانیانو له وارثینو سره خواخوږي وښودل شي. د خاطراتو او خبرو اترو لپاره د افغانستان مرکز هغه وروستی موزیم دی، چې د افغانستان بشري حقونو او ډموکراسۍ موسسې له لوري په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې جوړ شوی دی. یاد مرکز په دې هڅه کې دی، چې د جګړې قربانیانو او د هغوی د وارثینو داستانونه ثبت کړي څو له دې لارې د دوی د دردونو او له جګړې د خاطراتو په باب د حکومت د درک په لوړولو کې مرسته وکړي. دا ډول هڅې او نوښتونه په راتلونکې لا پیاوړي کېدای شي.

# د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ خبرې اترې

متحده ایالاتو او طالبانو د اوږدمهاله جګړې د پای ته رسولو په موخه خبرې شروع کړې چې د ۲۰۱۸ زیږدیز کال په مینځ کې پیل او نږدې یو نیم کال وغځېدې. په لومړي سر کې طالبانو له دولت سره نېغ په نېغه خبرې رد کړې (دولت یې لاسپوڅی رژیم باله) او د واک شریکولو تړون سره مخالف و. په پایله کې- که څه هم طالب استازو، حکومتي کسانو او پخوانیو چارواکو په غیر رسمي ډول لیدل سره وکړل- خو افغان دولت څنډې ته کړی شو.

طالبانو په دې ډېر ټینګار کاوه چې د بهرنیو ځواکونو شتون الهګوله زیاتوي او د سولې ستر خنډ دی. دوی د امریکایي ځواکونو وتل غوښتل. په مقابل کې، متحده ایالاتو له طالبانو غوښتل چې تروریستي ډلو ته د پناه ځای ورکول ودروي او له دولت سره خبرې وکړي.[88]

د ۲۰۱۸ زیږدیز کال جون میاشتې د کوچني اختر په دریو ورځو کې، په یوه لنډمهاله اوربند هوکړه وشوه. په دغه وخت کې، تر ټولو لږ تاوتریخوالی و او ملکي تلفات بیخي نه و.[89] دا یوه لنډمهاله خوښي او جګړه بندول وو او داسې صحنې په کې وې چې افغان ځواکونو او طالب جنګیالیو په ګډه خوښي لمانځله. ثرګنده شوه چې د طالبانو پوځي برخې د تاوتریخوالي په راکمولو کې د خپلو قومندانانو د اوامرو اطاعت کوي.

په داسې حال کې چې جنګیالیو د اوربند په اړه له بېلابېلو سرچینو څخه خبر ترلاسه کړی و، لږ شمېر یې پوهېدل چې طالبان ولې د حکومت له لوري د اوربند وړاندیز سره غبرګون ښیي. داسې اټکل کېده چې دوی غواړي د درز اوازې پر وړاندې د خپلې قوماندې وحدت وښیي. دوا‌ړو، دولت او طالبانو له پاره د ۲۰۱۸زیږدیز کال د کوچني اختر اوربند یوه بریالۍ تجربه وه چې د اوږدمهاله بندښت یو احتمال یې ښوده. له بده مرغه، په راتلونکو میاشتو کې تاوتریخوالی یو څه ډېر شو.

په هر حال، د ۲۰۲۰زیږدیز کال په فبرورۍ کې، متحده ایالاتو له طالبانو سره دوه پړاویزه هوکړه اعلان کړه؛ لومړی هغه یې د دواړو ښکېلو خواوو ترمینځ اورکم و. په دې اړه، په هغه وخت کې ددې مقالې یوه لیکوال ولیکل:

> د ښه نیت له ثرګندولو وراخوا، تر ټولو قوي احتمال دا دی چې متحده ایالات ددې ثرګند ډاډ غواړي چې طالب مشران په ټول هېواد کې په پراخو ویشلو پوځي ډلو بشپړ کنټرول لري. که چېرته مشکوک شي چې انفرادي اشخاص یا ډلې به په راتلونکي کې د سولې تړون مات کړي، نو له احتماله لرې ده چې متحده ایالات به د طالبانو له غوښتنو سره هوکړه وکړي. د سولې تړون په لومړۍ شپه د طالبانو سیاسي دفتر اعلان وکړ چې په ثرګنده یې خپلو قوماندانانو او جنګیالیو ته د ولایتونو په مرکزونو او په پلازمېنه، کابل کې پر مېشتو بهرنیو د بریدونو بندولو امر کړی و.[90]

دغه تړون د بل پړاو خبرو اترو او اوربند پروسې ته لاره هواروي. څلور لویې موضوع ګانې دي: د امریکایي او ناټو ځواکونو وتل (د طالبانو ستره غوښتنه؛ په اصل کې، د دوی د مقاومت د تر ټولو لوی لامل)؛ بین‌الافغاني مذاکرات؛ د طالبانو ضمانت چې دوی به ټروریستي ډلو ته د افغانستان له خاورې څخه د اډو په توګه اجازه نه ورکوي؛ او دایمي اوربند. ددغه تړون پر بنسټ امریکایي او ناټو ځواکونه به په ۱۳۵ ورځو کې په تدریجي ډول ووځي، خو دا وتل به د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي په کمولو او په ټروریزم ضد فعالیت کې په ونډې پورې تړلي وي. دغه راز دواړو خواوو د بندیانو په خوشي کولو هم موافقه وکړه (چې په بې‌ساري توګه د طالبانو په ګټه وه) او طالبانو ژمنه وکړه چې له افغان دولت سره به رسمي خبرې کوي.[91]

دا تړون تر نیوکو لاندې راغی، د نورو لاملونو ترڅنګ، د طالبانو پر وړاندې د متحده ایالاتو یو شمېر ژمنې او دا چې طالبانو په غیر متوقع ډول خپلې غوښتنې تحمیل کړې، هم تر نیوکې لاندې راغلې.[92] ډېری ددې وېره لري چې افغانستان به د ۲۰۰۱ زیږدیز کال راهیسې د بشري حقونو، د ښځو حقونو او انتقالي عدالت برخو کې ترسره شوې بریاوې وبایلي. ډېری نیوکې ددې دي چې مدني ټولنې او ښځې څنډې ته شوي دي او د سولې په خبرو کې د دوی غوښتنې په سم ډول منعکسې نه شي. ځیني اند ښنه لري چې متحده ایالاتو له وخته وړاندې د خپل پوځي شتون ختمولو له پاره یو ساده تړون وکړ، پرته له دې چې اوږدمهاله نامعلوم تضمین په پام کې ونیسي. دا به د متحده ایالاتو د کورني فشار له امله وي چې له ټاکنو سره تړاو لري او دغه راز عامه نظریات یې هم د «نه‌ختمېدونکې جګړې» د ختمولو لور ته روان دي.

ځیني نور بیا دا بهیر د یوې بدلېدونکي نقطې په توګه ګڼي چې د اوږدمهاله جګړې د پای یو فرصت چمتو کوي. ملګرو ملتونو یاد تړون سولې ته د زیاتېدونکې ارزښتمنې هیلې په توګه هرکلی وکړ.[93] د ملګرو ملتونو د «تجربوي ملاتړ او بندیزونو د څارنې ډلې» وویل، که څه هم دغه بهیر د طالبانو شتون او سیاسي نفوذ ډېر کړی دی، خو بیا هم مثبتې نښې شته لکه د دولت له لوري د حقاني شبکې د دریو بندیانو د خوشې کولو په بدل کې د لسو افغان دفاعي او امنیتي ځواکونو ازادول او د دوه نړیوالو ملکیانو د برمتې څخه خوشې کول چې ځینې یې له تېرو دوه کلونو راهیسې د طالبانو په ولکه کې و.[94]

تردې لیکنې پورې، د متحده ایالاتو او طالبانو د تړون پر بنسټ، افغان دولت او طالبان د زندانیانو خوشي کولو په بهیر کې ډېر مخکې تللي (۴۶۰۰ بندیان خوشې شوي دي). متحده ایالاتو هم له افغانستان څخه خپل یو شمېر سرتیري ویستي دي. خو لکه څرنګه چې په ورته وخت کې بین‌الافغاني مذاکرات په پیلېدو دي، خو د خبرو د اجنډا په اړه ډېر لږ معلومات دي او دواړو خواوو د لوړې کچې ملکي تلفاتو ترڅنګ، د یو بل پر وړاندې خپل تاوتریخوالي ته شدت ورکړی دی.

# د انتقالي عدالت په تړاو د ښکېلو خواوو پوهه، لیدلوري او تمې

کلیدي لوبغاړي انتقالي عدالت ته په متفاوته سترګه ګوري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداري (AREU) له لوري له ښکېلو سیاسي ډلو سره مرکې دې ښودنه کوي چې دوی انتقالي عدالت ته د یوې پروژې په سترګه ګوري چې پرې د بسپنه ورکوونکي مرسته راجلب کړي؛ داسې وسیله چې د سیاسي سیالانو څخه غچ پرې واخلي؛ د مصؤنیت یو غلاف؛ یا یوه داسې سپېڅلې هڅه چې د تېرو ظلمونو جبران پرې وکړي. همدارنګه مرکو د عدالت او بې‌عدالتۍ بېلابېل ډولونه رابرسېره کړي، د بېلګې په توګه د سرچینو غیرعادلانه وېش، د ملاتړ په بدل کې دولتي ګمارنې او پراخ اداري فساد، دا ټول مجرمینو ته د معافیت ورکولو سره تړلي ښکاري.[95]

له ۲۰۱۰زیږدیز کال راهیسې، افغان دولت او بسپنه ورکوونکو په دې هوکړه کړې چې جګړه یوازې د پوځي او جبر له لارې نه ګټل کېږي. په هر حال، اندېښنه دا ده چې طالبان د سولې خبرو ته د خپل اسلامي امارت له پاره د مشروعیت رامینځ ته کولو د یوه فرصت په سترګه ګوري. دوی توانیدلي چې خپل ځیني لوړ پوړي مشران د ملګرو ملتونو او متحده ایالاتو د تور لیستې څخه وباسي او په دوحه کې خپل سیاسي دفتر فعال وساتي، په داسې حال کې چې خپل تاوتریخوالي ته ادامه ورکوي او په عمومي ډول افغان پوځ او حکومتي چارواکي په نښه کوي.[97]

دا برخه د انتقالي عدالت په تړاو د هرې ډلې ګڼ‌شمېر تمې او انګېرنې روښانه کوي او همدارنګه ددې تفصیل وړاندې کوي چې دوی څرنګه په ټولیز ډول د سولې له بهیر سره په ټکر کې دي.

## افغان دولت

د بن را وروسته مطرحه کسانو (په ځانګړي توګه د شمالي ټلوالې د غړو او پخوانیو مجاهدینو) تمه دا ده چې د طالبانو او د افغانستان خلق دموکراتیک ګوند پخوانیو غړو له لوري ترسره شوو جنګي جرمونو ته دې پاملرنه وشي، په دې ترتیب به د کورنۍ جګړې دوره ختمه شي. تر ۲۰۰۹زیږدیز کال پورې، چاپیریال تغییر شوی و: یو ولسمشریز نوماند په داسې حال کې چې په جنګي جرمونو تورن و، نور خلکو ته د منلو نه و. دا د بخښنې د قانون له مخې د بخښنې کولو د لومړیتوب بندی لامل شو.

د کابل اوسنی سیاسي مشرتابه- د ۲۰۱۹ زیږدیز کال دولسمشریزو ټاکنیزو شخړو سره سره-د حکومتي وضعیت د ساتلو او سیاسي هوکړې ته د رسېدلو په اړه متحد دي چې طالبان د سیاسي سیستم یوه برخه وګرځوي. د پخوانیو تېریو په اړه کوم روښانه پیغام نشته. د «بشري حقوقو» او «انتقالي عدالت» لغتونه یو وخت د یو څو ستراتیجیکو عامه اسنادو مرکزي برخې وې، لکه د انتقالي عدالت عملیاتي پلان، خو ورو ورو له خولې ولوېدل. د قوي جنګي جرمونو مرتکبینو له انده، د بشر حقوقو د سرغړونو یادول به محاکمې ته د دوی د راکشولو لامل وګرځي. دا له۲۰۰۱زیږدیز کال راهیسي لویه اندېښنه ده او ښايي د جرمي مسؤلیت په ښورولو کې ستر خنډ وي. ددې پرځای اوس ډېر تمرکز په واک شریکولو دی.

عدالت ته د رسېدو په اړه د حکومت حاکمه تګلاره په ساده ډول تېر په هېر او مخکې تلل دي. هغه څه چې له پالیسي جوړونکو سره مرسته کوي، له «انتقال» څخه د یوې لنډمهالي پروسې په توګه د «بدلون» لور ته اوښتل دي چې اوږدمهاله او باثباته دي. دا چاره یوه پراخه اجنډا په ځان کې رانغاړي چې په کې بدلېدونکې سیاسي، اقتصادي او ټولنیزې پروسې او عدالت او پخلاینې ته د رسېدو له پاره ټولنیزې تګلارې شاملې دي چې د بشر حقوقو او افغاني قوانینو اصلي پرنسیپونو ته درناوی کوي.

## د افغانستان د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون

د افغانستان بشري حقوقو خپلواک کمیسیون مشرتابه یوه فعاله تګلاره په لاس کې لري چې د بشري حقوقو هر ډول سرغړونه، په ځانګړي توګه د روان تاوتریخوالي په حالت کې د ملکي وګړو په نښه کول وڅاري او غندنه یې وکړي. کمیسیون له طالبانو سره د تړون هرکلی وکړ او غوښتنه یې وکړه چې یوه څارنیزه څوکۍ دې ورکړل شي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې هیڅ داسې پرېکړه نه کېږي چې د بشري حقوقو ارزښتونه تر پښو لاندې کړي.

دا چې له طالبانو سره خبرې پر لاره دي، په دواړو حالاتو کې، سولې او عدالت په اړه د متوازنو ارزښتمنو نظریاتو چمتو کولو او د قربانیانو مستقیم او غیر مستقیم ګډون ملاتړ له پاره به (په خبرو اترو کې د رسمي څارونکي په توګه ګډون ته له کتلو پرته) د کمیسیون ونډه ډېره اړینه وي. په ورته وخت کې، د دوی ستره ننګونه به دا وي چې څرنګه د جګړې د ټولو ښکېلو غاړو باور ترلاسه کړي ترڅو د ټولو افغانانو د بشري حقوقو د دفاع په برخه کې بې پرې دریځ ولري.

## طالبان

لکه څرنګه چې مخکې وویل شول، طالبان له بن تړون څخه ویستل شوي وو. له ۲۰۰۱ زېږدیز څخه تر ۲۰۰۷زیږدیز کلونو پورې، دوی له سختو حملو سره مخ و: ډارول، نیول، شکنجه کول او شپنۍ چاپې او بمبار چې نه یوازې جنګیالي یې ووژل، بلکې بېګناه کلیوال یې هم ووژل. کله کله دوی اعلامیې خپرولې چې دوی په ځانمرګو بریدونو او بمباریو کې، چې د لویو ملکي تلفاتو لامل شوي دي؛ لاس نه لري. په هر حال، دا د دوی له خبرو سره په ټکر کې دي او د ډېرو بریدونو پړه یې منلې چې ملکي تلفات یې هم درلودل.

برنېټ روبین ډېر ټینګار کوي چې د قربانیانو اړوند بحثونو کې دې د طالبانو جنګیالي هم شامل وي، ځکه د دوی پوهنیز او وظیفوي فرصتونه محدود و.[97] دوی داسې را لوی شوي چې په شدت سره په جهادي ایډیالوجۍ پورې تړلی اوسي او وسله واخلي چې معقوله ټاکنه ورته ښکاري. په بله وینا، د طالبانو مشرتابه د عدالت، بشري حقوقو، جنګي جرمونو او آن د بشریت ضد جرمونه په اړه لیکلي بحثونه کوي چې د دوی پر ضد سرغړونې او د حکومت تر ولکې لاندې سیمو کې د ملکیانو پر ضد سرغړونې رابرسېره کړي.[98] پخوانیو مشرانو د افغانستان څېړنې او ارزونې ادارې سره په مرکه کې د عدالت په اړه د خپلو لیدلورو له پاره د جنوبي افریقا او سریلانکا ځینې بېلګې راوړي او ټینګار یې کاوه چې پخلاینه یو اړین پیلیز ټکی دی چې له ټولو اړخونو سره شوې بې‌عدالتۍ روښانه کوي.[99]

له متحده ایالاتو سره د خبرو اترو پر مهال د طالبانو تمرکز د زندانیانو په خلاصون او د ملګرو ملتونو او متحده ایالاتو په بندیزونو و. که څه هم هڅه کېده چې دا چاره د بین‌الافغاني مذاکراتو د بحث نقطه وي، ولې بیا هم یو دلیل ګڼل کېده چې د جګړې ختمولو په اړه باید په پام کې ونیول شي ترڅو طالبان خپل امتیاز له بنسټه غښتلی کړي. د امریکا متحده ایالاتو د سولې انسټیټیوټ په ۲۰۱۸زیږدیز کال په یوه سروې کې وموندله چې ټیټپوړي جنګیالي- عسکر خپل ډېر عمر د سپېڅلې جګړې لپاره تېروي او ځان ته د په حق والي تسلي ورکوي- او له ټوپک دغه تاوتریخوالي پرته ژوند په سختۍ درک کړي.[100]

په هر حال، تر ننه د طالبانو سیاسي غوښتنې د اسلامي امارت په بیاراګرځېدو تمرکز لري. دوی هر سیاسي جوړجاړي ته د خپلو شرایطو له مخې ګوري، په دې معنی چې امارت دې جوړ او اساسي قانون دې تعدیل شي. د جنګي جرمونو او تاوتریخوالو په اړه د دوی د دریځ نه کوم څرګند وضاحت شته او نه هم د پخلاینې او له ټولنې سره د یوځای کېدو په اړه د خپلو ځواکونو په اړه کوم پلان باندې خبرې کوي. کله چې پخواني طالبان له جنګي مجرمینو او سرغړونکو سره د معاملې په اړه پوښتل کېږي، دوی ځواب نه ورکوي.[101]

هغه څه چې څرګند دي، دا دي چې طالبان يوه افراطي ډله ده او ګټوري خبرې ورسره امکان لري؛ هغه څه چې د نورو جهادي ډلو په اړه نشي ويل کېداى. دا وړتيا او د خبرو تيارى په اثبات رسېدلى او متحده اياالتو سره سولې تړون ته رسېدل يې يوه بېلګه ده. خو يوازې دا نه ده: طالبانو پخوا په افغانستان واکمني کړې، نو ښايي خبرو اترو ته د ستر حقيقت او خپلو ګټو په خاطر ارزښت ورکړي چې نور جهادي ګروپونه دا وړتيا نه لري. همدا دليل دى، چې د د دوى مشرانو په مينځ کې د واک د تندې په ګډون، ښايي دا ډله د نورو برخلاف، خپلو موخو لپاره د عدالت او مسؤليت اړوند پوښتنې د ګوابن په توګه ونه ګڼي.

## افغان مدني ټولنه

ددې مقالې اړوند څېړنو ښوده، افغانان د «سولې»، «عدالت» او «پخلاينې» په تړاو جلا جلا درک لري. يو شو مدني ټولنيزو ادارو، چې د انتقالي عدالت موضوع يې منلې او پرمخ وړې؛ په اسانه ډول يې مرسته کړې چې دا کلمات مناظرو ته معرفي کړي، د قربانيانو ډلې تنظيم کړي او عامه پوهاوى زيات کړي؛ خو د جګړې وروسته راتلونکي لپاره د انتقالي عدالت خوځنده او رښتيني ليدلوري په رامينځ ته کولو نه دي برياليشوي.[۱۰۲] پردې سربېره، ددغو مدني ټولنيزو ادارو غړي د خبرو اترو ونډه وال نه دي، نو د سولې خبرو ته مستقيم لاسرسى هم نه لري.

د امريکا متحده اياالتو د سولې انستيټيوټ له لوري په ۲۰۱۹زېږديز کال ترتيب شوى راپور دا څرګندوي چې ډېرى افغان ملکيان نه له دولت او نه له طالبانو سره خواخوږي لري.[۱۰۳] هغه قربانيان او د مدني ټولنو غړي چې د راپور لهپاره ورسره مرکه شوې وه، احساسوله چې دولت غوره اقتصادي فرصتونه چمتو کولاى شي او انساني پرمختيا ډېرولى شي، خو طالبان ښه ثبات او امنيت راوستلى شي. ډېرى ښځو، پر دوى د ګرځېدو، سينګار او زده کړېزو محدوديتونو لهامله، د طالبانو په تړاو شرايط درلودل. ځينو مرکه کېدونکو د متحدهاياالتو په اړه منفي نظر درلود، فکر يې کاوه چې د دوى پوځي شتون جګړه سخته کړې ده او غواړي چې د افغانستان په طبيعي زېرمو ولکه ولري او د سولې په خبرو کې روڼتيا نشته. ځوابونه د سيمو له مخې هم متفاوت دي: د بېلګې په توګه، ښاري خلک د متحده اياالتو او نړيوالو ځواکونو په اړه خوښمن وو، دا ښايي د طالبانو تر واک الندې سيمو په پرتله دوى ته د لويو فرصتونو او له بهرنيو مرستو څخه د ډېرې ګټنې له امله وي.[۱۰۴] په ټولو مرکو کې يوه اړينه نقطه عبارت له دې ده چې مدني ټولنې د جګړې په پاى ته رسولو او د سولې هڅو ته په لومړيتوب ورکولو ټينګار درلود.

دا چې عام خلک به د سولې په خبرو کې- په ليکلې، شفاهي يا دواړه ډوله- ونډه واخلي که څنګه، روښانه نه ده. که د توافق وړ وي، تر ټولو لوړه هيله ده دا ده چې حکومت او طالبان به د سولې ډېرې نږدې خبرې ترسره کړي او د هر انفرادي کس او ډلې له مسؤليت څخه پورته، يو ډول سياسي جوړجاړى وکړي.

# نړیوال لوبغاړي

د افغانستان متحدین د بشري حقوقو، انتقالي عدالت، د سولې ملاتړ، پخلاینې او ټولنې سره د یوځای کېدو په تړاو، په بشپړ ډول په یوه خوله نه دي. د بېلګې په توګه، اروپایي ټولنه او غړي هېوادونه یې په ټینګار سره د هغو حکومتي هڅو ملاتړ کوي چې د بشري حقوقو موضوع راپورته کوي او د بشري حقوقو کمیسیون ته د بسپنې ورکولو ته ژمن دي. خو متحده ایالات د څوکونو مسؤلیت منلې او فساد ضد ادارو او میکانیزمو د ملاتړ سره سره، د جنګي جرمونو او انتقالي عدالت په اړه پټه خوله دي. ددې سربېره، له طالب مشرانو سره د لوړې کچې خبرو اترو له لارې په دې وروستیو کې د جوړجاړي تر ردېدو پورې، له ټولنې سره یوازې د ټیټې کچې طالب جنګیالیو د یوځای کېدو ملاتړ کوي.

په بن پروسه کې یوه اجماع وه چې دواړه لوري افغان دولت او متحده ایالات/د ناټو غړي هېوادونه میلان لري چې د مسؤلیت منلې او عدالتي پروسو د پلي کولو پر وړاندې مقاومت وکړي. آن تر دې چې براهیمي (وروسته بیا د ملګرو ملتونو ځانګړی استازی شو) یوه اوږدمهاله عدالتي پالیسي جوړه کړه، هغه په «لومړی سوله، بیا عدالت» باندې تمرکز درلود.[105] په افغان سیاسي سیسټم کې ښکېلو نړیوالو لوبغاړو وېره درلوده چې د مسؤلیت منلې میکانیزمونه به مړژواندې (نازکه) سوله ختمه او بله کورنۍ جګړه به رامینځ ته کړي.

دا چې د بن تړون عدالت او مسولیت منلې ته ډېره لږه پاملرنه وکړه او دا چې نړیوالې جنایي محکمې کومې څېړنې هم پیل نه کړې یا یې د ادعا شوو جنګي جرمونو په اړه د توقیف قرار صادر کړی وای، دا ټول د افغان قربانیانو لپاره د ناهیلۍ لاملونه وو. د نړیوالې ټولنې پټهخوله پاتې کېدل له هغې وېرې سره اړیکه انګېرل کېږي چې د تورونو تعقیبول به ښایي له دولت سره د دا ډول مطرحه څېرو مرسته راکمه کړي. د بشري حقوقو خپلواک کمیسیون په وینا، په ۲۰۰۵زیږدیز کال کې ۷۲ سلنه خلکو په دې باور درلود چې عدالت ته د جنګي جنایتکارانو راکش کول به ثبات غښتلی کړي او امنیت به رامینځ ته کړي. یوازې ۸ سلمه خلکو فکر کاوه چې ثبات او امنیت به راکم شي.[106]

د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د مارچ په پنځمه، نړیوالې جنایي محکمې د استیناف دیوان د رایو په اتفاق پرېکړه وکړه چې څارنوالانو ته د څېړنو پیلولو اجازه ورکړي چې په کې د ۲۰۰۳زیږدیز کال د مۍ له لومړۍ راهیسې په افغانستان کې د ارتکاب شوو جنګي جرمونو څېړل هم شامل وو، «همدارنګه د نورو جرمونو چې په افغانستان کې له جګړې سره اړیکه لري یا له وضعیت سره په کافي اندازه تړلي وي خو د نورو غړو هېوادونو په خاوره کې د ۲۰۰۲زیږدیز کال د جولای راهیسې ارتکاب شوي وي، هم څېړل کېږي.»[107] دا پرېکړه په افغانستان (د روم بنسټلیک یوه غړي هېواد) کې د ارتکاب شوو جرمونو په اړه د څیړنې څارنوال د مناسبو شواهدو د تاییدۍ پر بنسټ وه چې طالبانو او مرستندویه ډلو یې، دغه راز افغان ملي امنیتي ځواکونو او د متحده ایالاتو وسلوالو پوځونو په افغانستان او په پولینډ، رومانیا او لیتوانیا کې د سي آیي ای په پټو مرکزونو کې د «شکنجې، ظلم یا ظالمانه چلند، په خصوصي حریم تیري، د جنسي تیري او د جنسي تاوتریخوالي جرمونه ارتکاب کړي دي».[108] په ځواب کې، د متحده ایالاتو ولسمشر ډونالډ ټرمپ، ځانګړې کړه چې د څېړنیزو یا تحقیقاتي چارواکو پر ضد د بندیزونو لګولو او د لوی څارنوال، فاټاو بېنسوډا، د امریکایي ویزې د لغوه کولو له لارې د محکمې په چارو کې د درز راوستلو اراده لري[109]. دا غبرګون اروپایي ټولنې سره په ټکر کې و، چې په عمومي ډول د جنګي جرمونو په رابرسېره کولو قوي ټینګار کوي. دا هم امکان لري چې د بین الافغاني خبرو منځګړي به ښکېلې خواوې دې ته وهڅوي ترڅو یوه رښتیني توافق ته غاړه کېږدي چې کورنۍ سوله او عدالتي موخې سره چمتو کړي، نو د نړیوالې جنایي محکمې څېړنې به تر ملي پروسې پورې وځنډول شي. په پای کې، نړیواله جنایي محکمه د وروستۍ حل لارې په توګه جوړه شوې، کله چې ملي چارواکي د مناسب عمل څخه عاجز شي، بیا نوموړې محکمه خپل فعالیت پیلوي

# پایله: پر مخ پرته لاره

افغانستان په دې څېړنیزه قضیه کې داسې څېړل شوی چې ځرنګه جګړه او جرم له یوه بل سره تړلي دي. د امنیتي وضعیت په خرابولو کې، دولت پر بشري حقوقو، عدالت او مسؤلیت منني باندې، لنډمهاله امنیت او ثبات ته لومړیتوب ورکړی دی چې لنډ ژوند لري.

امنیت او بشري حقونه تر ډېره له یو بل سره مختلف او جلا ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې پولیس او پوځ د امنیت مسؤلیت لري او بشري حقوق او عدالت د قضائیه قوې، بشر حقوقو کمیسیون او غیردولتي مؤسسو مسؤلیت دی. په افغانستان کې انتقالي عدالت هم له ورته برخلیک سره مخ دی. دا د هغه حقیقت برعکس دی، چې آن دلته د انتقالي عدالت په تړاو واحد لیدلوری نشته چې انتقالي عدالت څه شی دی او ځرنګه به له ټولو جګړهمارو خواوو سره کومک وکړي.

په ځرګند ډول دولت د انتقالي عدالت مسؤلیت د افغانستان بشري حقوقو خپلواک کمیسیون ته ور پرېښی دی. سربېره پردې، انتقالي عدالت یو پېچلی بهیر دی چې د سیستم وراخوا ډلو په ګډون له تاوتریخوالي اغېزمن شوو ونډهوالو او ادارو مرستې او همکارۍ ته اړتیا لري. د محدودې وړتیا سره سره، د افغانستان بشري حقوقو خپلواک کمیسیون د پام وړ کار کړی دی. ددغه کمیسیون هېواد شموله مشورې ډېرې پراخې وې او هڅه شوې وه چې د بېلابېلو ونډه والو خواخوږي ترلاسه کړي. خو په ټوله کې، سیاسي پروسې او انتقالي عدالت د نړدېوالي پر ځای لرېوالي لوري ته وړاندې تګ کړی دی.

د نورو جګړه ځپلو هېوادونو په پرتله د افغانستان سیاسي وضعیت یو څه ډېر پېچلی دی. ډېری پخوانیو قومندانانو او د ګوندونو مشرانو د انتقالي عدالت هڅو غیرمشروع کولو کوښښ کړی ځکه د مجاهدینو (چا ته چې له شوروي اتحاد او طالبانو څخه د هېواد خپلواکوونکو په سترګه کتل کېږي) په نښه کولو وېره په کې شته. د ناامنه چاپېریال او د وېرې کلتور ترڅنګ د مدني ټولنو ضعف، افغانان له اصلاحاتو او انتقالي عدالت تعقیبولو څخه راګرځولي دي. دوی د دولت ژمنې ته اړتیا لري چې دا ډول څېرې کابو کړي چې د «سولې احتمالي ورانکاري» دي او په ناامنه چاپېریال کې غوړېږي.

د سولې د نوو خبرو په رامینځ ته کېدو سره، له پخوانیو ظلمونو سره د مقابلې د ځرنګوالي فرصت راپورته شوی دی. په هغه څه فکر کول، چې په سیاسي لحاظ د ترلاسه کولو وړ وي؛ د ارزښت وړ دي. څارنې لپاره د یوې ځانګړې محکمې ایجادول به په سیاسي لحاظ ممکن نه وي، خو نور میکانیزمونه لکه د ورکو شوو کسانو دفتر یا ډلییز تاوان پروګرام به ښایي د لږ مقاومت سره مخ شي. پر رغوونکي عدالت او ټولنیز همغاړیتوب باندې د ټینګار ترڅنګ پراخې دودیزې پروسې به په سیمیزه کچه د شکایتونو او مسؤلیت منني دودولو لپاره د موافقت مناسب عنصر وي. دودیز یا عرفي عدالت د جګړې او سیاسي بې ثباتۍ په کلونو کې یو څه خوښې په اثبات رسولې ده. په هر حال، د بشري حقوقو په ځانګړي توګه د ښځو د حقوقو تضمینوونکي ځیني قانوني میکانیزمونه له دودیزو عدالتي تګلارو سره سمون نه خوري چې سمون ته اړتیا لري ترڅو په پام کې ونیول شي. نو نړیواله ټولنه باید دا ډولت عدالتي پروسې په پراخ ډول تر نظره تېرې کړي، دې ته په پام سره چې کلیوال جرګو/شوراګانو ته په دولتي محکمو لومړیتوب ورکوي. په داسې حال کې چې دودیز عدالت ډېر محدودیتونه لري او نه باید بې باکه چلند ورسره وشي، که له شرایطو سره سم پلي شي، اړینې تشې ډکولی شي.

بالاخره، د انتقالي عدالت هر ډول پلانونه د سولې بهیر سره سمون ته اړتیا ولري او سرچپه (برعکس) باید نه وي. له نېکه مرغه دا امکان لري. ښکېلو خواوو د تېرو ظلمونو لپاره قانوني معافیتونو اړوند تمې منلي دي او په افغانستان کې د سولې د بیې په اړه یې د ډېر شمېر پوښتنو راپورته کولو لپاره یوه کړکۍ وړاندیز کړې ده. ټولو هغو خواوو ته، چې باور لري په اوس وخت کې متفاوت توازن د امکان او خوښې وړ دی؛ له نوښتیزو، په ځایي کچه اغېزمنو او په نړیواله کچه منل شوو نظریاتو ته چمتووالی نیول ارزښتمن ګڼل کېږي.

# لومړی مل لیک: د مرکو پوښتنلیک

| | |
|---|---|
| نوم | |
| دنده | |
| د مرکې نېټه | |
| د مرکې ځای | |
| ۱. لـه ۲۰۰۱ زېږدیز کال راوروسته تاسو د بې عدالتۍ، جګړه ییزو جرمونو او بشري حقونو نقض محوري موضوعات څه ډول تعریفوئ؟ (یادونه: تاسو کولای شئ د دغو اصطلاحاتو لپاره له خپل شخصي نظره هم تعریف وړاندې کړئ.) | |
| • د حکومت له لوري بې عدالتي | |
| • د طالبانو له لوري بې عدالتي | |
| • د نورو ډلو له لوري بې عدالتي | |
| ۲. ایا تاسو په افغانستان کې له تاوتریخوالي یا بې عدالتۍ سره مخ شوي یاست؟ که ځواب مو هو وي، په دې اړه ستاسو تجربه څه ده (ایا مستقیما له تاسو سره شوی یا ستاسو د کورنۍ له نېږدې غړي سره یا دا چې له هغې ډلې سره چې تاسو یې استازیتوب کوئ؟) | |
| • کله | |
| • چېرته | |
| • د چا له لوري | |
| • ځرنګه / څه پېښ شول | |
| ۳. د جګړې ښکېلو اړخونو له لوري د بې عدالتۍ/عدالت په باب تاسو د دوی تګلارې څه ډول ارزوئ؟ | |
| • د حکومت تګلارې | |
| • د طالبانو تګلارې | |
| • د نړیوالې ټولنې تګلارې | |
| ۴. اوس او په راتلونکې کې باید څه وشي څو دغو بې عدالتیو ته لاسرسی وشي؟ | |
| • د حکومت له لوري: | |
| أ. اوسمهال | |
| ب. په راتلونکې کې | |
| • د طالبانو له لوري: | |
| أ. اوسمهال | |
| ب. په راتلونکې کې | |
| • د نړیوالو لوبغاړو له لوري: | |
| أ. اوسمهال | |
| ب. په راتلونکې کې | |
| ۳. ستاسو له انده د پورته یادو شویو وړاندیزونو ګټو کومې دي؟ | |
| ۴. ایا تاسو د انتقالي عدالت له مفهوم سره بلد یاست؟ | |
| • له دې مفهوم نه ستاسو درک او پېژندنه څه ده؟ | |
| • کله چې د انتقالي عدالت په اړه اورئ یا یې په تړاو خبرې کوئ، ذهن ته مو څه راځي؟ | |
| • ایا تاسو د نورو هغو هېوادونو په اړه معلومات لرئ، چې له انتقالي عدالت ګټه پورته کوي یا د انتقالي عدالت پر اړوند موضوعاتو کار کوي؟ | |
| • هغه مهمې تجربې چې موږ یې له نورو هېوادونو ترلاسه کولای شو کومې دي؟ کوم هېوادونه او کومې تجربې؟ | |

# دویم مل لیک: پېښلړ

| | |
|---|---|
| د ۲۰۰۱ ډسمبر | بن هوکړه لیک لاسلیک شو |
| ۲۰۰۲جون | د افغانستان بشري حقونو خپلواک کمېسیون رسماً رامنځ ته شو |
| ۲۰۰۴ جنوري | نوی اساسي قانون د لویې جرګې له لوري نهایي شو |
| ۲۰۰۲ ـ ۲۰۰۵ | زیاتره طالب مشران ونیول شول او ګوانتانامو یا هم بګرام زندانونو ته ولېږل شول. |
| ۲۰۰۴ـ۲۰۰۷ | د ناټو ځواکونو او طالبانو ترمنځ جګړې ونښتې؛ د طالبانو او القاعدې له لوري د ځانمرګو بریدونو لومړی څپه |
| ۲۰۰۷ | امریکا متحده ایالاتوو د طالبانو یا تروریزم پرضد د ایساف جګړه رامنځ ته کړه. |
| ۲۰۰۸ | د ژمنو ارزونه او بیانوې کېدل او پر تدارکاتي لارو د طالبانو بریدونه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو سازمان مرستندویه ماموریت (یوناما ) د ملکي تلفاتو لومړنی راپور خپور کړ. |
| ۲۰۰۹ | د امریکا متحده ایالاتو پیاوړتیا او د ځواکونو په زیاتوالي سره د نوې نظامي څپې پیل او د جګړې شدت د پارلمان له لوري د عفوې قانون ( چې د ملي روغې جوړې، عمومي بښنې او ملي ثبات ) په نوم و تصویب شو. |
| ۲۰۱۰ | امریکایي – برېتانوي ګډې حملې او له تروریزم سره د جګړې لا شدت د لندن کنفرانس په لاره واچول شو ، چې په هغه کې د نړیوالو متحدینو له لوري د افغانستان د سولې لار نقشه تایید شوه. |
| ۲۰۱۱ | د نړیوالو نظامي ځواکونو وتل پیل شول |
| ۲۰۱۳ | د بهرنیو ځواکونو د وتلو پلان عملي شو او له ۲۰۱۴ وروسته د نظامي ښکېلتیا پلان چمتو شو. د قطر په دوحه کې د طالبانو سیاسي دفتر پرانبستل شو. |
| ۲۰۱۴ | د افغان حکومت او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د دوه اړخیزو امنیتي همکاریو تړون لاسلیک شو. د طالبانو پیاوړتیا او د نړیوالو ځواکونو له لوري د بې پیلوټه بریدونو پیل |
| ۲۰۱۶ | له حزب اسلامي سره د سولې هوکړه لاسلیک شوه؛ له افغانستان د امریکایي ځواکونو وتل. |
| ۲۰۲۰ | د طالبانو او امریکا متحده ایالاتو ترمنځ د سولې هوکړه په دوحه کې لاسلیک شوه |

# Endnotes

1 “Special Inspector General For Afghanistan Reconstruction [SIGAR] Quarterly Report to Congress”, 30 April 2020.

2 Transparency International, “Corruption Perceptions Index 2019”; 23 January 2020.; and Martine van Bijlert (2011), “The Kabul Bank Investigations; Central Bank Gives Names and Figures”, Afghanistan Analysts Network, 2 May 2011.

3 Huma Saaed and Stephan Parmentier, “When Rabbits are in Charge of Carrots: Land Grabbing, Transitional Justice and Economic-State Crime in Afghanistan”, *State Crime Journal*, 2017, 6(1); Chona R Echavez et al., “Transitional Justice: Views from the Ground on How Afghanistan Fares”, Afghanistan Research and Evaluation Unit, Kabul, October 2016; and Huma Saeed, “Victims and Victimhood: Individuals of Inaction or Active Agents of Change? Reflections on Fieldwork in Afghanistan”, *International Journal of Transitional* Justice, 26 December 2015; and “A Call for Justice - A National Consultation on past Human Rights Violations in Afghanistan”, AIHRC, 25 January 2005.

4 Patricia Gossman and Sari Kuovo, “Tell Us How This Ends: Transitional Justice and Prospects for Peace in Afghanistan”, *Afghanistan Analysts Network*, 29 June 2013; and Craig Whitlock, “At war with the truth”, *The Washington Post*, 9 December 2019.

5 Ronald Slye and Mark Freeman, “Toward a Transitional Justice Framework for Preventing and Overcoming Violent Extremism” (IFIT and UNU, 2018), p. 4.: “The strategic objectives of a transitional justice strategy should normally encompass a mix of the long term (eg, a society free of violent conflict; a society committed to robust protection of human rights and reconciliation), medium term (eg, defeating an extremist group; providing increased access to fundamental social services) and short term (eg, creating disincentives for joining an extremist group; prosecuting a set number of people; disarming others; healing and assisting victims)”.

6 Superva Narasimhaiah et.al., “Transitional Justice Views from the Ground on How Afghanistan Fares”, *Afghanistan Research and Evaluation Unit (AREU)*, 31 October 2016.

7 Diego Cordovez and Selig S. Harrison, *Out of Afghanistan: The Inside Story of the Soviet Withdrawal* (New York, 1995).

8 Mark Duffield, “Getting Savages to Fight Barbarians: Development, Security and the Colonial Present”, *Conflict, Security and Development*, August 2005, 5(2); and Patricia Gossman, “Transitional Justice and DDR: The Case of Afghanistan,” *International Center for Transitional Justice (ICTJ)* June 2009.

9 Antonio Giustozzi, “Bureaucratic Façade and Political Realities of Disarmament and Demobilisation”, *Conflict, Security and Development*, 2008, 8(2), p. 188; and Timor Sharan and Srinjoy Bose, “Conflict Management, Extractive Industries, and the 2014 International Military Exit Strategy in Afghanistan”, in Catherine Owen, Shairbek Juraev, David Lewis, Nick Megoran and John Heathershaw (Eds.) *Interrogating Illiberal Peace in Eurasia: Critical Perspectives on Peace and Conflict* (London, 2018).

10 Tom Miles, “UN torture committee wants Afghan general prosecuted”, Reuters, 12 May 2017.

11 Patricia Gossman, “Will Afghanistan Prosecute Kandahar’s Torturer-in-Chief?”, Human Rights Watch, 17 May 2017.

12 See, Matthieu Aikins, “Our man in Kandahar”, *The Atlantic,* November 2011; “The master of spin Boldak”, *Harper’s Magazine*, December 2009; and “Matthieu Aikins: US Continues to Back Afghan Warlord Linked to 2006 Massacre, Torture”, *Democracy Now*, 27 September 2011.

13 Patricia Gossman, “US General’s Photo Op with Accused Torturer in Afghanistan”, Human Rights Watch (https://www.hrw.org/news/2017/06/26/us-generals-photo-op-accused-torturer-afghanistan) 26 June 2017

14 “Afghanistan: Proposed Militia a Threat to Civilians Irregular Forces Lack Effective Oversight, Accountability”, Human Rights Watch, 2017; and Jonathan Goodhand and Aziz Hakimi, “Counterinsurgency, Local Militias, and Statebuilding in Afghanistan”, United States Institute of Peace (USIP), 2014.

15 “The truth about Dasht-i-Leili”, *The New York Times*, 13 July 2009.

16 UNAMA, “Midyear Update on the Protection of Civilians in Armed Conflict: 1 January to 30 June 2019” (https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_poc_midyear_update_2019_-_30_july_english.pdf); and UNAMA, “Quarterly Report on the Protection of Civilians n Armed Conflict: 1 January to 30 September 2019” (https://unama.unmissions.org/sites/default/files/unama_protection_of_civilians_in_armed_conflict_-_3rd_quarter_update_2019.pdf). Operations of NDS Special Forces appear to fall outside the official Afghan national security forces’ chain of command.

17 “‘They’ve Shot Many Like This: Abusive Night Raids by CIA Backed Afghan Strike Forces’”, Human Rights Watch, 31 October 2019.

18 UNAMA, "Afghanistan Protection of Civilians in Armed Conflict: Annual Report 2018"; and "Afghanistan Annual Report on Protection of Civilians in Armed Conflict: 2019", p. 64.; "Karzai Wants US to Reduce Military Operations in Afghanistan", *The Washington Post*, 14 November 2010; and "The Cost of Kill/Capture: Regional Policy Initiatives on Afghanistan and Pakistan", Open Society Foundation, 19 September 2011.

19 UNAMA, "Quarterly Report on the Protection of Civilians in Armed Conflict: 1 January to 30 September 2019".

20 "'They've Shot Many Like This", Human Rights Watch, op. cit.

21 UNAMA, "Annual Report 2018", op. cit.; UNAMA (2019), "Annual Report … 2019", op. cit.

22 SIGAR, "Special Inspector General for Afghanistan Report", Quarterly Report (https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2018-10-30qr.pdf) (2018)

23 Freedom House, "Freedom in the World 2020 Report", (https://www.justice.gov/eoir/page/file/1274591/download) 4 January 2020

24 SIGAR, "July 30 Quarterly Report to Congress", (https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2020-07-30qr.pdf) 30 July 2020, p.126

25 Saaed and Parmentier, "When Rabbits are in Charge", op. cit., p. 15.

26 Ibid., p. 25.

27 Ibid. p. 22; also see, "Around two million acres of govt lands grabbed: AFH", *Afghanistan Times*, (http://www.afghanistantimes.af/around-two-million-acres-of-government-lands-grabbed-afh/), 21 February 2016.

28 Zalmay Khalilzad, *The Envoy: From Kabul to the White House, My Journey through a Turbulent World* (2016).

29 Barnett Rubin, "Transitional Justice and Human Rights in Afghanistan", *International Affairs*, 2003.

30 "Afghanistan: Background on the Anti-Taliban group, the Northern Alliance", *Refworld*, 14 December 1999.

31 HRW, "The Massacre in Mazar-e-Sharif", Human Rights Watch, vol. 10, no. 7 (C), (https://www.hrw.org/legacy/reports98/afghan/Afreporo.htm#P42_1817) (November 1998); and HRW, "The Massacre of Yakawlang", Human Rights Watch vol. 13, no 1(C) (https://www.hrw.org/reports/2001/afghanistan/index.htm#TopOfPage) (January 2001).

32 Matt Waldman, "Dangerous Liaisons with the Afghan Taliban", *United States Institute of Peace*, 2010, p.1

33 Ashley Jackson, "Perspectives on Peace from Taliban Areas of Afghanistan", *United States Institute of Peace*, May 2019, pp. 12-13.

34 UNSC, "Tenth report of the Analytical Support and Sanctions Monitoring Team submitted pursuant to resolution 2255 (2015) concerning the Taliban and other associated individuals and entities constituting a threat to the peace, stability and security of Afghanistan", Letter dated 10 June 2019 from the Chair of the UN Security Council Committee established pursuant to resolution 1988 (2011) addressed to the President of the Security Council, Res S/2019/481, 13 June 2019, p. 3 and 8, https://www.securitycouncilreport.org/atf/cf/%7B65BFCF9B-6D27-4E9C-8CD3-CF6E4FF96FF9%7D/s_2019_481.pdf.

35 "Eleventh report of the Analytical Support and Sanctions Monitoring Team submitted pursuant to resolution 2501 (2019) concerning the Taliban … ", UN Security Council, 27 May 2020.

36 UNAMA, "Annual Report … 2019", op. cit.

37 Jackson and Antonio Guistozzi, "Talking to the other side: Taliban perspectives on aid and development work in Afghanistan", Humanitarian Policy Group, Overseas Development Institute (ODI), December 2012; and Paula Newton, "Taliban threaten to kill aid workers as spies", CNN, 15 March 2009.

38 "Afghanistan: Rights on the precipice", Human Rights Watch, 17 January 2019.

39 "Kabul Attack: Taliban Kill 95 with Ambulance Bomb in Afghan Capital", BBC News, 28 January 2018, https://www.bbc.com/news/world-asia-42843897.

40 "The Taliban Cut off his Finger for Voting, he Defied them Again", Reuters, 28 September 2019, https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-election-voter/the-taliban-cut-off-his-finger-for-voting-he-defied-them-again-idUSKBN1WD09I

41 "Taliban Cut off Fingers of 8 Voters in Afghanistan", *Ariana News*, 24 October 2018, https://ariananews.af/taliban-cut-off-fingers-of-8-voters-in-afghanistan/

42 "Aid Worker Security Report 2017 – Behind the attacks: A look at the perpetrators of violence against aid workers", Humanitarian Outcomes, 2017.

43 Nematullah Ibrahimi and Shahram Akbarzadeh, "Intra-*Jihadist* Conflict and Cooperation: Islamic State–Khorasan Province and the Taliban in Afghanistan", *Studies in Conflict & Terrorism*, 2019.

44 "Afghanistan", Freedom House, 2020.

45 Orzala Ashraf Nemat and Ajmal Samadi, "Forgotten heroes: Afghan women leaders killed in impunity ignored in justice", (Kabul: Afghanistan Rights Monitor, 2012) (https://lccn.loc.gov/2014311230).

46 "Agreement on provisional arrangements in Afghanistan pending the reestablishment of permanent government institutions," Government of Afghanistan, 2001.

47 Hasht-e-Sobh, "Untold stories of Bonn Conference" (in Dari), (https://8am.af/unspoken-conference-bon/) 2017.

48 Lakhdar Brahimi, interview by Mary Sack and Cyrus Samii, *Journal of International Affairs*, Fall 2004, p. 244. Brahimi believed that the Taliban should have been part of reconciliation measures directly following Bonn.

49 "Afghanistan: Judicial Reform and Transitional Justice", International Crisis Group Report, 28 January 2003.

50 Rubin, op. cit.

51 "Agreement on provisional arrangements … ", Government of Afghanistan, op. cit.; and "Decree of 2002 of the Presidency of the Interim Administration of Afghanistan on the Establishment of an Afghan Independent Human Rights Commission".

52 Elham Atashi, "Afghanistan: transitional justice in the midst of war", Nationalities Papers, 2013, p. 1,049

53 Ahmad Nader Nadery, "Peace or Justice? Transitional Justice in Afghanistan", *The International Journal of Transitional Justice*, March 2007; and Emily Winterbotham, "The State of Transitional Justice in Afghanistan", AREU, 1 April 2010. The AIHRC did not conduct surveys in contested areas of the south and east.

54 "A Call for Justice – A National Consultation on past Human Rights Violations in Afghanistan", AIHRC, 25 January 2005.

55 Some argue that Nadery's criticism of electoral fraud during Karzai's second presidential bid in 2009 was the reason for removal. Gossman, "Documentation and Transitional Justice in Afghanistan", USIP, 2013, p. 5.

56 See, eg, "Casting Shadows: War Crimes and Crimes against Humanity: 1978-2001", Afghanistan Justice Project, 2005.

57 Christopher Zambakari, "Conceptualizing Reconciliation in Transitional Processes", *Peace Review*, 2018, pp. 374-375.

58 Their signed letter was submitted after receiving permission from Mullah Omar to surrender.

59 Anand Gopal, "The Battle for Afghanistan", *New America*, 9 November 2010.

60 Gopal, "Flash to the Past: Missed Opportunities for Reconciliation", Afghanistan Analysts Network, 15 November 2010.

61 "Law on Amnesty, National Reconciliation and Stability", Government of the Islamic Republic of Afghanistan, Official Gazette, no. 965, 3 December 200; and Gossman, "Transitional Justice and DDR …", op. cit.

62 Atlantic Council, "Transcript: General David McKiernan Speaks at Council's Commanders Series", (https://www.atlanticcouncil.org/commentary/transcript/transcript-general-david-mckiernan-speaks-at-councils-commanders-series/)

63 Mujib Mashal, "Gulbuddin Hekmatyar, Afghan Warlord, Returns to City He Left in Ruins", *The New York Times*, 4 May 2017.

64 "Challenges to Peace and Justice in Afghanistan", ICTJ, 2009.

65 Afghanistan expert Barnett Rubin has written on the importance of ensuring that those implicated in human rights abuses are not ministers in subsequent governments. As early as 2003, he observed that there was no legal process to separate eligible and ineligible candidates. Barnett Rubin, "Transitional justice and human rights in Afghanistan." *International Affairs*, 79, no. 3 (2003), pp. 567-581. p.571

66 "Quarterly Report to the United States Congress", SIGAR, 30 October 2019, p. 3.

67 Ibid, p. 45.

68 The process involved a disarmament regime that included a parade during which fighters gave up weapons and attended a demobilisation workshop.

69 Gossman, "Transitional Justice and DDR … ", op. cit.

70 Susanne Schmeidl, "The Quest for Transitional Justice in Afghanistan: Exploring the Untapped Potential of Customary Justice", *Journal für Entwicklungspolitik*, 2011.

71 Projay-e-Tahkeen-e Solha (PTS) is directly translated as National Commission for Peace and Reconciliation.

72 Schmeidl, op. cit.

73 Author interviews.

74 Giustozzi (2008), "Bureaucratic Façade …", op. cit., pp. 180-181; Simonetta Rossi and Giustozzi (2006), "Disarmament, Demobilisation and Reintegration of Ex-combatants (DDR) in Afghanistan: Constraints and Limited Capabilities", Crisis States Research Centre Working Paper, 2006.

75 Giustozzi, *Koran, Kalashnikov and Laptop: The Neo-Taliban Insurgency in Afghanistan*, New York, 2008.

76 Rossi and Giustozzi, "Disarmament, Demobilisation and Reintegration …", op. cit.

77 "Karzai pressed to move on Taliban reintegration", *The New York Times* (https://www.nytimes.com/2010/06/26/world/asia/26afghan.html), 25 June 2010.

78 SIGAR, "Reintegration of Ex-Combatants: Lessons from the U.S. Experience in Afghanistan", (https://www.sigar.mil/pdf/lessonslearned/SIGAR-19-58-LL.pdf), September 2019.

79 “Quarterly Report …”, SIGAR, 2019, op. cit.

80 Catherine Putz, “Learning from US Efforts to Reintegrate Former Combatants in Afghanistan”, *The Diplomat*, 5 November 2019.

81 A jirga is a temporary, ad hoc decision-making body that mainly deals with communal disputes. It usually includes tribal elders, community leaders and, at times, religious leaders. All parties involved must consent in advance on which version of tribal laws (*narkh*) to use. Sometimes, Sharia law is also used. Once the jirga reaches a decision or ruling (*prikra*), the whole community has to abide by it, and the jirga is dissolved. A shura is a more permanent mechanism that started during the Afghan wars to help commanders influence decisions in a given community. Shuras also resolve disputes. During the Loya Jirga for Peace, participants demanded an immediate ceasefire and an Afghan-led process. However, the Taliban rejected the Jirga, and most political oppositions did not participate.

82 Schmeidl, op. cit., p. 44.

83 Ibid., p. 49.

84 Atashi, op. cit., p. 1,051.

85 “Afghanistan in 2018: A Survey of the Afghan People”, The Asia Foundation, pp. 8, 121.

86 Atashi, op. cit., p. 1051.

87 Afghans in 2018 showed high confidence in religious leaders (69.3 per cent). “Afghanistan in 2018”, op. cit. p. 115. Men (71.1 per cent), more than women (67.5 per cent).

88 Mujib Mashal, “U.S. and Taliban begin highest-level talks yet on ending Afghan war”, *The New York Times*, 25 February 2019.

89 “Trump says Taliban must curb violence for meaningful Afghanistan talks”, Reuters, 22 January 2020.

90 Srinjoy Bose, “In Afghanistan, Peace or Fragmentation?” *Lowy Interpreter*, Lowy Institute (https://www.lowyinstitute.org/the-interpreter/afghanistan-peace-or-fragmentation), Sydney, 28 February 2020.

91 “Eleventh Report of the Analytical Support and Sanctions Monitoring Team …”, op. cit. See “Agreement for Bringing Peace to Afghanistan …”, op. cit.

92 See, eg, John R. Allen, “The US-Taliban peace deal: A road to nowhere”, Brookings, 5 March 2020.

93 “United States-Taliban deal: UN welcomes efforts to reach political settlement in Afghanistan”, UN News, 29 February, 2020.

94 “Eleventh report of the Analytical Support and Sanctions Monitoring Team …”, op. cit

95 Interview notes.

96 “Security Council ISIL (Da’esh) and Al-Qaida Sanctions Committee Removes One Entry from Its Sanctions List”, UN Security Council, 2017; and “Afghanistan: UN drops Taliban names from sanction list”, BBC, 16 July 2011.

97 Rubin, op. cit.

98 Based on author’s observations, there were at least 19 statements on social media and WhatsApp groups over the last year highlighting reports about “war crimes” committed by government and international military.

99 Author interview notes.

100 Borhan Osman, “The Taliban Perspective”, USIP, June 2018, p. 20.

101 Author interview notes.

102 Ibid.

103 Jackson, op. cit.

104 Ibid.

105 Nadery, op. cit.

106 “A Call for Justice”, op. cit., p.17.

107 “Team Trump Tried to Bully the ICC Into Dropping War Crimes Probe But Failed”, Truthout (https://truthout.org/articles/team-trump-tried-to-bully-the-icc-into-dropping-war-crimes-probe-but-failed/), 10 March 2020.

108 “Judgment on the appeal against the decision on the authorisation of an investigation into the situation in the Islamic Republic of Afghanistan”, ICC, paras. 79, 4; and public redacted version of “Request for authorisation of an investigation pursuant to article 15”, ICC, 20 November 2017, para. 189.

109 Marlise Simons and Megan Specia, “U.S. revokes visa of I.C.C. Prosecutor pursuing Afghan war crimes”, *The New York Times*, 5 April 2019.

IFIT

INSTITUTE FOR INTEGRATED TRANSITIONS

## د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیتیوټ(IFIT) په اړه

د دې انسټیټیوټ مرکزي دفتر په بارسلونا کې دی او یوه نړیواله نادولتي موسسه ده، چې موخه یې له ماتو او جګړه ځپلو هېوادونو سره له جګړې د پایداره لېږد په برخه کې مرسته ده. د دې موسسې اصلي کار دا دی، چې په ځایي کچه د شخړو او جګړو دوران د ماتولو لپاره د یوې متخصصې اداري په توګه د ادغام پالیسیو د حل لارو په وړاندې کولو کې مرسته وکړي. د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیټیوټ اداره د ایرلنډ هېواد بهرنیو چارو وزارت، د ناروې بهرنیو چارو وزارت او سویډن(د سویډن نړیوالې پراختیایي اداري او بهرنیو چارو وزارت)، هالند (د بهرنیو چارو وزارت)، سویټزرلنډ (د بهرنیو چارو وزارت فدرالي اداري)، اروپایي ټولنې (اروپایي کمېسیون او د بهرني سیاست د خدمتونو له کمېټې)، متحده بشریت سازمان، فورډ بنسټ، رابرټ بوش بنسټ، کمپټن بنسټ، جوبیتز کورنۍ بنسټ، کارل پوپر بنسټ او ښاغلي جان ګرین والډ ښځه د دوی د مالي مرستو له کبله منته کوي.

## مدیره هیئت :

ډیوید ګارډنر، د نړیوالو چارو اېډیټر او د فایناشیل ټایمز مرستیال اېډیټر؛ د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیټوټ د مدیره هیئت د رئیس په توګه کار کوي، هیلین بارور یې مرستیال دی، جان ګرین والډ یې منشي او لیسلي وین جاموري یې غړی دی.

## نړیواله مشورتي شورا

هاکان التینای: د نړیوالې مدني اکاډمۍ رئیس؛ جان کارلین: ژورنالېست او لیکوال؛ ماریا کاتووي: د سوداګرۍ نړیوالې خونې پخوانۍ منشي؛ سوجیت چودری: د Constitutional Transitions د څېړنو مرکز موسس رئیس؛ ګریت ایوانز: د استرالیا د بهرنیو چارو پخوانی وزیر او د بحران نړیوالې ډلې پیاوړی رئیس؛ میلانیا ګرینبرګ: د Humanity United اجرائیوي رئیس؛ اي ګیما بودي: د افرو بارومیتر اجرائیوي رئیس؛ لطیفه جیبادي: د مراکش هېواد د حقیقت موندنې کمېسیون پخوانۍ غړې، د ملي پارلمان استازې او د یاد هېواد د بشري حقونو ملي شورا غړې؛ باسما کودمان: د عرب اصلاحاتو نوښت موسس او پخوانۍ اجرائیوي رئیس؛ فراني لیوتیر: د South Bridge Investments اجرائیوي رئیس؛ فلیپ مکدوناګ: د دوبلین ښار په پوهنتون کې د دیني، بشري ارزښتونو او نړیوالو چارو مرکز رئیس؛ احمد رشید، ژورنالېست او لیکوال؛ کارنې روس: د Independent Diplomat اجرائیوي رئیس؛ ناصر حمید سعدي: د Nasser Saidi &Associates رئیس؛ د لبنان د اقتصاد او سوداګرۍ پخوانی وزیر؛ چاوتي ساتا اناند: د تایلنډ په توماست پوهنتون کې د سیاسي علومو استاد؛ ناتالي توکي: د نړیوالو چارو انستیټیوټ رئیس؛ رافیل ویلاسانجون: د ISGlobal رئیس؛ د بې پولې ډاکټرانو پخوانی عمومي منشي؛ الیزابیت اونګار بلیر: د لاس انډیس په پوهنتون کې د سیاسي علومو استاد؛ اسکار ویارا: د Getulio Vargas د حقوقو پوهنځي رئیس؛ جانیفر ویډنر: د پرنسټون پوهنتون د وډرو ویلسیون پوهنځۍ د سیاسي علومو او نړیوالو چارو استاد؛ د بریالیو ټولنو پروګرام لپاره د نوښتونو بنسټ رئیس.

د مخ لید آنځور:

یو افغان وګړی چې ماسک یې اچولی او د هغه دیوال له مخې تېرېږي، په کوم چې د افغان سولې لپاره د امریکا متحده ایالاتو ځانګړي استازي ښاغلي زلمي خلیلزاد او د طالبانو مذاکراتي پلاوي مشر ملا برادر عکس رسم شوی دی. کابل؛ افغانستان، د ۲۰۲۰ زېږدیز کال د اپریل ۱۳. رویټرز/ محمد اسماعیل.

بڼه او ټایپ

کایل اولسن

ژباړه: احسان الله ځیرک

د خپروني کوډ: ۲۰۱۴ پ

ISBN 978-9936-641-69-3

9 789936 641693

**د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیټیوټ**

Sant Pau-Recinte Modernista (Pavelló Central) C/ Sant Antoni Maria Claret, num .167

۰۸۰۲۵ بارسلونا

اسپانیا

تلیفون شمېرې: +۳۴ ۹۳ ۵۲۴ ۱۰۱۱

برېښنالیک: info@ifit-transitions.org

د مدغم انتقال لپاره د څېړنو انستیټیوټ په تړاو دلا ډېرو معلوماتو لپاره لاندې ویبپاڼه وګورئ: www.ifit-transitions.org